# Lecture Notes 1398



# Internal Medicine داخله

## د هضمي سیستم او پښتورګو ناروغی

Ketabton.com


استاد: متخصص

دوکتور سید راحت (حیدري)

ترتیب کوونکی:

کفایت الله نایب اماني (MR.18)





Mr.18
Kefayatullah.naibamani

0784597549




(c) ketabton.com: The Digital Library

Contents


| Lecture No: | Lecture: | Date: | Page No: |
|---|---|---|---|
| 1 | Gastro esophageal Reflux disease (GERD) | 2/6/1398 | 1 |
| 2 | Clinic of GERD | 4/6/1398 | 3 |
| 3 | Deferential Diagnosis of GERD | 11/6/1398 | 6 |
| 4 | Achalasia | 14/6/1398 | 11 |
| 5 | Infectious Esophagitis | 21/6/1398 | 16 |
| 6 | Gastritis and Gastropathy | 25/6/1398 | 22 |
| 7 | Chronic Gastritis | 28/6/1398 | 27 |
| 8 | Peptic ulcer disease (PUD) | 1/7/1398 | 30 |
| 9 | Investigations for PUD | 8/7/1398 | 36 |
| 10 | Complications of PUD | 11/7/1398 | 40 |
| 11 | Zolinger Ellison Syndrome (ZES) | 15/7/1398 | 47 |
| 12 | Upper GIs Bleeding | 18/7/1398 | 52 |
| 13 | Lower GIs Bleeding | 22/7/1398 | 57 |
| 14 | Irritable Bowel Syndrome (IBS) | 25/7/1398 | 61 |
| 15 | Inflammatory Bowel Disease (IBD) | 29/7/1398 | 68 |
| 16 | Complications of IBD | 2/8/1398 | 72 |
| 17 | Jaundice | 6/8/1398 | 78 |
| 18 | Chronic Hepatitis | 9/8/1398 | 82 |
| 19 | Chronic Hepatitis C | 16/8/1398 | 85 |
| 20 | Liver Cirrhosis | 20/8/1398 | 90 |
| 21 | Investigations for Liver cirrhosis | 20/8/1398 عملي ساعت | 94 |
| 22 | Acute Pancreatitis | 23/8/1398 | 99 |
| 23 | Complications of Acute Pancreatitis | 27/8/1398 | 105 |
| 24 | Urinary Tract Infections (UTI) | 30/8/1398 | 111 |
| 25 | Nephrotic syndrome | 4/9/1398 | 118 |
| 26 | Acute Renal Failure (ARF) | 7/9/1398 | 122 |
| 27 | Investigations for ARF | 11/9/1398 | 126 |
| 28 | Chronic Renal Failure (CRF) | 14/9/1398 | 131 |
| 29 | Investigations for CRF | 18/9/1398 | 136 |
| 30 | Hemodialysis | 21/9/1398 | 140 |


√Dr.Mr18

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Clinical examination of the gastrointestinal tract



(c) ketabton.com: The Digital Library

## 4 Abdominal examination: possible findings




## 6 Rectal examination: common findings



(c) ketabton.com: The Digital Library



# Digestive system




# Gastro esophageal Reflux Disease (GERD)

## تعریف:

هر کله چي د معدي محتویات بار بار د ډیر وخت لپاره د مرۍ سره تماس پیدا کړي او ناروغ ورڅخه ګیله من شی نو هغي حالت ته **GERD** ویل کیږي. د نړۍ **30%** خلک پرې اخته دي. په نارمل حالت کي دري ډوله **Anti-reflux** میکانیزمونه دې چي نه پریږدي د معدي اسید مرۍ ته لاړ شي او په **GERD** کي دغه میکانیزمونه خراب وي، دغه میکانیزمونه په لاندي ډول دي:

1) **Lower esophageal sphincter:**

دا **Sphincter** د مرۍ خواته د محتویاتو بیرته ګرځیدو څخه مخنیوي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2) Esophageal peristalsis:

د مرۍ استداري حرکات چي د مرۍ په پاکولو کي مرسته کوي.

## 3) Esophagus - Diaphragm:

د مرۍ هغه برخه چي د **Diaphragm** څخه تيريږي، په دې پرده کي **Ligaments** دي کوم چي د **Sphincter** په شان دنده لري او نه پريږدي چي د معدي محتوي د مرۍ سره په تماس راشي.




# Pathogenesis:

لاندي فکتورونه د **GERD** په راتګ کي ونډه لري:

1) **Lower esophageal sphincter dysfunction**
2) Esophageal clearance ↓↓
3) Delayed gastric emptying
4) Hiatus hernia
5) **Intra-Abdominal pressure ↑↑:**

د ګيډي داخلي فشار په لاندي حالتونو کي زياتيږي:

a. Pregnancy
b. Obesity(Central)

(c) ketabton.com: The Digital Library



c. Ascites
d. Tumors (Ovarian)
e. Body fit cloths
f. او زیات خوراک سره زیاتیږي

50% د Obesity ناروغان GERD لري.

6) Drugs:
   a. Nitrate
   b. CCB
   c. Sildenafil
7) Foods:
   a. Chocolate
   b. Coffee, Caffeine
   c. Ciggrate
   d. Alcohol




همدرانګه ځیني نور فکتورونه لکه: زیاتي کانګي، Scleroderma او د ډوډۍ خوړلو څخه وروسته ژر څملاستل د GERD سبب کېدلی شي.

# Clinical Features:

## 1) Typical Symptoms:

### A. Heartburn+ Regurgitation:

دا په لاندې حالتونو کي زیاتیږي:

a. Large meal دغتي شحمي غذا څخه وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



b. Bending ښکته (ټوغ) کیدلو باندي

c. Steering په زور وهلو باندي

B. Water brush:

د لاړو زیاتوالي ته ویل کیږي او هغه وخت پیدا کیږي کله چي اسید مری ته لاړ شي.

C. Hoarseness:

د اواز خپوالي: د اسیدو له وجي **Laryngitis** منځ ته راځي او ددي څخه بیا د اواز خپوالي منځته راځي.

D. Dysphagia
E. Chest Pain:

په دغه ناروغانو کي کله کله د سیني دردونه پیدا کیږي چي ددي دردونو توپیر باید د **Angina** د دردونو سره وشي.

لکه: د **Angina** دردونه د تمرین سره زیاتیږي او د **Sublingual nitro glycerin** سره ښه کیږی، خو د **GERD** سیني دردونه د تمرین سره کومه اړیکه نلري او**Anti- acid** سره ښه کیږي.

2) <u>Atypical symptoms:</u>

a. Chronic cough
b. Bronchial asthma (2/3)
c. Recurrent chest infection

## Complications:

که چیري دغه ناروغي تداوي نه شي نو خطرناک اختلاطات ورکوي چي په لاندي ډول دي:

1) Esophagitis: د مری التهاب

دا التهاب شاید **Mild** وي او ساده سوروالي پکي موجود وي او یا کیدای شي **Sever** وي چي په مری کي **Ulcer** او ددې په تعقیب **Bleeding** واقع شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 2) Barrett's Esophagitis:

په دې کې د مرۍ نورمال **Squamous Epithelium** په **Columnar Epithelium** باندې بدلیږي. او یو **Malignant** حالت دې یعنې د **Malignancy** شروع ده. په دې حالت کې د **Esophageal carcinoma** خطر **40-120** چنده زیاتیږي، په هرکال کې دغه ناروغ ته اندوسکوپي اجرا کیږي.

په **Barrett's esophagitis** کې **Heart burn**، **Regurgitation** او کله کله **Dysphagia** هم موجوده وي.

**Barrett's esophagitis** په **White**، **Obesity** او هغه خلک چې عمر یې د **55** کلنۍ څخه ښکته وي موجود وي.

### 3) Iron Deficiency Anemia:

**Occult blood loss** موجود وي نو ځکه انیمیا منځته راوړي.

### 4) Benign Esophageal Stricture:

د مرۍ سلیم تنګوالي دي چې د مرۍ د بار بار التهاب له وجې منځته راځي.

### 5) Aspiration Pneumonia
### 6) Gastric Volvulus

## Investigations:

ددې ناروغي تشخیص د کلینیک په واسطه کوو، نو ددې ناروغانو **Investigation** هم مهم نه دي او نه ترسره کیږي(کله چې د یو ناروغ عمر د **55** کلنۍ څخه کم وي او **Red flag sign** هم ونلري نو دغه ناروغانو ته **Investigation** نه اجرا کیږي) خو که چیرې د یو ناروغ عمر د **55** کلنۍ څخه زیات وي او **Red flag sign** هم ولري نو په دې حالاتو کې ورته **Investigation** ترسره کوو چې په لاندې ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



1) Endoscopy:

ددې په واسطه ددغي ناروغي تشخيص، تفريقي تشخيص او اختلاطات پيژندلي شو.

2) 24 hours PH Monitoring:

ددې معايني ارزښت ډېر کم دي ځکه چي يو خو ددي ناروغي تشخيص کلينيکي شو او بل اندوسکوپي په ذريعه ددي معايني کلينيکي ارزښت کميږي. په دې معاينه کي د 24 ساعتونو لپاره د مرۍ د PH اندزه ليدل کيږي،

که د مرۍ PH د 4 څخه کم وو نو په GERD يا د Reflux په ښودنه دلالت کوي.

# Red Flag Signs:

a. Dysphagia
b. Hematemesis/ Melena
c. Persistence vomiting
d. Epigastric Mass
e. Weight loss
f. Iron Deficiency anemia

# Deferential Diagnosis:

د GERD تفريقي تشخيص د لاندې ناروغيو سره کوو:

1) Angina: (chest pain)

په Angina کي هم د GERD په شان د سيني دردونه موجود وي خو په Angina کي د سيني دردونه خپل اوصاف لري او په GERD کي خپل اوصاف لري. لکه: په Angina کي دغه دردونه د تمرين سره اړيکه لري خو د GERD دردونه د تمرين سره کومه اړيکه نه لري، په Angina کي دغه دردونه د خوراک سره کومه اړيکه نه لري خو په GERD کي د خوراک سره اړيکه لري همدرانګه په Angina کي د سيني دردونه د استراحت سره اړيکه لري خو د GERD دردونه د استراحت سره اړيکه نه لري.

2) Peptic ulcer

(c) ketabton.com: The Digital Library



3) Eosinophilic esophagitis
4) Infectious esophagitis
5) Drugs induced esophagitis

# Management and Treatment:

د GERD لپاره تداوي په دري برخو ویشل شوي ده:

## 1. Life style changes:

د ژوند بڼې بدلون لکه:

### A. Reflux genic:

هغه غذا ګاني چي Reflux منځته راوړي یا یي تشدیدوي نو هغه باید ونه خوړل شي لکه: Chocolate، Caffeine او غوړ خواړه.

### B. Acidic foods:

د اسیدي خوړو څخه ځان ساتل لکه: سرکړې شیان، مرچ او مساله لرونکي خواړه.

### C. Drugs:

هغه درمل چي د GERD په منځته راتلو کي رول لري د هغي استعمال څخه ډډه کول لکه: Nitrate، CCB او Beta blockers. ددي درملو بدیل باید استعمال کړل شي.

### D. Weight loss:

د وزن کمول.

### E. Small frequent meal:

د کوچني غذا ګانو څخه استفاده کول کوم چي د معدي لپاره یي هضم او جذب اسانه وي، د لږي ډوډۍ خوړل.

### F. Tight cloths:

د تنګو کالیو نه اغوستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### G. Smoking/ Alcohol:

ددې نه استعمالول.

### H. Elevation of Head:

د خوب په وخت کي خپل سر د 6 انچو په اندازه پورته ایښودل.

I. د زیات پورته کیدلو او کږیدلو څخه ډډه کول د خوراک په وخت کي.

J. د ډوډۍ خوړلو څخه دري ساعته وروسته څملاستل(ویده کیدل)

## 2. Drugs:

کله چي GERD په Mild حالت کي وي یعنی د ناروغ ګیلي کمي وي یا کله وي او کله نه وي نو لاندې درمل ورکوو:

### A. Anti- acid:

a) Alginate (Gaviscon)
b) Almonium+ Magnesium

Alginate دا Dual action لري یعني یو اسید خنثيّ کوي او بل کله چي د غذا څخه وروسته وخوړل شي نو په معده باندي یو پوخ جوړوي او هغه پوخ نه پریږدي چي د معدي اسید مرۍ ته لاړ شي، دا درمل د شپي او د ډوډۍ څخه وروسته توصیه کیږي په 10-20ml ډوز سره.

### B. H2 Receptors Blockers:

a) Cemitidine (20mg)
b) Famotodine (10mg)
c) Ranitidine (75mg)

خو که د GERD اعراض ډیر وي او د ناروغ په ورځنۍ ژوند کي مداخله وکړي یعني Sever (Troublesome) حالت وي نو لاندي درمل ورکوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



A. PPI (Proton pump inhibitors)
a) Omeprazole (20mg)
b) Esomeprazole (40mg)

دغه درمل د 4-8 اونیو پورې OD یا په ورځ کې یوځل ورکول کیږي، کله چې OD ورکول شي نو 90% او کله چې BiD یا دوه ځلې ورکول شي نو 95% اغیزمن دي. په 80% ناروغانو کې د PPI د درولو سره د کال په جریان کې په دریو میاشتو کې دغه د GERD ناروغي دوباره برګشت کوي یا دغه اعراض او ګیلې دوباره Relapse کوي.چې بیا ددې لپاره به تداوي په لاندې ډول کوو:

a. Low dose continuous PPI:

PPI درمل به په دوامداره ډول په کم ډوز سره ورکوو.

b. Intermittent:

یعني په وقفوي ډول ورته PPI توصیه کیږي.

c. Demand therapy:

د ضرورت په وخت کې PPI ورکوو یعني کله چې اعراض موجود وې استعمالوي يې او که اعراض نه وي موجود نو نه يې استعمالوي.

ځیني نور درمل هم ورکولای شو:

A. Prokinetic drugs:
a. Metoclopramide (10mg)
b. Domparidone (Motilum)

دغه درمل د خولې له لارې په ورځ کې درې ځلې ورکول کیږي، دا درمل د معدې په تخلیې کې تیزوالې منځته راوړي او د LES تقلص زیاتوي.

B. TCA:
a. Nortyptyline

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 3. Surgery:

## A. Fundoplication:

هغه وخت اجرا کیږي کله چي د بشپړي طبي درملنې سره هم شدید اعراض موجود وي.




Fig. 21.30 Treatment of gastro-oesophageal reflux disease: a 'step-down' approach.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Achalasia




## تعريف:

يو **Idiopathic mortality disorder** دي چي په دري شيانو متصفه ده:

1) **Lower esophageal sphincter Hypertonic State**
2) **Distal esophagus peristalsis ↓↓**
3) **Dilatation of Esophagus**

دا چي ددي ناروغی سبب معلوم نه دي یعنی **Idiopathic** ده نو ځيني **Hypothesis** نظريات موجود دي:

A. **Autoimmune disease**
B. **Nitric oxide ↓↓**

په **LES** کي نيورونونه دي چي **Nitric oxide** ترې افرازيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Clinical Features:

### 1) Dysphagia:

ځکه چي خواړه د ډیر وخت لپاره په مری کي بند پاتي وي.

### 2) Regurgitation:

خولي ته د غذایي موادو راتګ، ځکه چي د مری استداري حرکات نه وي.

دغه **Regurgitation** سره دوه فرقونه لري له **GERD** د **Regurgitation**:

**a)** له دې سره **Heart burn** نه وې ځکه چي **LES** بند وي نو اسیدو ته اجازه نه ورکوي چي د معدي څخه مری ته لاړ شي.

**b)** دغه **Regurgitation** د ساعتونو لپاره موجود وي.

### 3) Post prandial discomfort:

د غذا د خوړلو څخه وروسته ناراحتي.

### 4) Post prandial fullness:

د غذا د خوړلو څخه وروسته د سیني د ډکوالي احساس کول.

5) **Chest pain**
6) **Weight loss**
7) **Aspiration pneumonia**
8) **Lung abscess**

# Investigations:

د تفریقي تشخیص د معلوملو او تشخیص ته د رسیدلو لپاره لاندې معاینات اجرا کیږي:

### 1. Endoscopy:

ددې په واسطه تفریقي تشخیص کوو، د مری ښکتني برخي تومورونه هم د **Achalasia** په شان مری بندوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2. Barium Meal X-ray:

دا ډیره ښه معاینه ده، **Barium** مواد ورکوو، او د **X-ray** په واسطه عکس اخلو نو د **Birds beak sign** ښودنه کوي. کله چي دغه پروسه دوام پیدا کړي (یعني ناروغي دوامداره شي) نو مرۍ دومره **Dilated** کیږي چي په **X-ray** کي مرۍ د کولون **(Sigmoid colon)** په شکل ښکاري.




## 3. Esophageal Manometry:

دا ترټولو ښه معاینه ده او موږ پري تشخیص ته رسیدلي شو، **Pressure sensitive tube** د پوزي له لاري تیریږي او موږ ته بیا لاندي حالتونه ښايي:

a) د **LES** د استرخا درجه.

b) د مرۍ فشار زیاتوالي راښايي کوم چي د غذا او مایع له وجي منځ ته راځي.

c) د مرۍ **Peristalsis** له منځته تګ.

(c) ketabton.com: The Digital Library






# Management and Treatment:

په دي ناروغي کي **Life style changes** کوم خاص رول نه لري، درمل هم د ناروغ سره خاص کومک نه شي کولاي خو یوائي په **10%** ناروغانو کي موثر دي او **Temporary relief** پیدا کوي، چي دغه درمل په لاندي ډول دي:

a) **CCB**
b) **Nitrate**
c) **Sildenafil**

دغه درمل دري وخته د ډوډۍ څخه نیم ساعت مخکي ورکول کیږي چي د **LES** **Pressure** کموي.

1. **Endoscopy:**

د اندوسکوپي په ذریعه د مری په **LES** کي **Botulinum toxin injected** زرق کوو، نو ددي له وجي په **LES** کي یو اندازه پراخوالي راځي، چي دغه پراخوالي په **80%**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغانو کي موثر دي. خو د **6-9** میاشتو وروسته د ناروغي راګرځیدل **Relapse** زیات دي.







## 2. Endoscopic Dilatation:




## 3. Surgical Myeotomy:

هغه وخت اجرا کیږي کله چي د اندوسکوپي کړنې له ناکامي سره مخ شي.






(c) ketabton.com: The Digital Library



# Infectious Esophagitis




## تعريف:

د مرۍ هغه التهاب ته ويل کيږي چي د انتاناتو له وجي پيدا کيږي. په دې ناروغي کي وايروسونه خصوصآ فنگسونه مداخله کوي.

## Risk Factors:

دغه ناروغي په **Immune compromised** يعني معافيت ځپلو ناروغانو کي زياته پيدا کيږي لکه:

1) **HIV**
2) **Leukemia**
3) **Lymphoma**
4) **Immune Suppressive drugs**
5) **Organ Transplant**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورته ناروغانو کي د انتاني **Esophagitis** پیښي زیاتي وي.

## Causes:

### 1) Candida:

په هغه ناروغانو کي وي چي قوي **Antibiotics** اخلي، په لوړ ډوز سره **Steroids** اخلي او **DM** ولري.

### 2) Cytomegalovirus
### 3) Herpes

دا دواړه ډیر نادراً په روغو یا نورمال خلکو کي منځ ته راتلاي شي.

Normal Esophagus    Esophagitis





## Clinic:

1) **Dysphagia**
2) **Odynophagia**
3) **Chest pain**
4) **Oral Thrush (70- 80%):**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي یي علت **Candida** وي نو په هغي کي دا تپونه موجود وي.

## 5)Herpes Labialis:

کله چي یي علت **Herpes** وي نو د شونډو تپونه موجود وي.






خو کله چي د ناروغي علت **Cytomegalovirus** وي نو **HIV** به حتماً موجوده وي او په لاندي برخو کي به د **Clinic** له نظره پتالوژي موجوده وي:

1) **Retina**
2) **Colon**
3) **CNS**

## Investigations:

که تشخیص په **Clinic** کیدلو نو هیڅ ډول معایناتو ته ضرورت نشته خو که شکمن حالت وي نو لاندي ټستونه اجرا کیږي:






(Infectious Esophagitis)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 1) Endoscopy:

که چيرته د التهاب علت **Candida** وي نو د اندسکوپي په کتنو کي به په مرۍ کي **Diffuse, Linear, White Patches** يعني خواره، خطي، سپين رنګه پلاکونه موجود وي چي دا به په **Candida esophagitis** دلالت کوي.

که چيرته د دغه التهاب علت **Cytomegalovirus** وي نو **One to several, Large, Superficial, Ulcers** يعني د يو څخه تر څو دانو پورې، لوي، سطحي ټپونه به موجود وي.

او که چيرته د التهاب علت **Herpes** وي نو **Multiple, Small, Deep, Ulcers** يعني بي شميره، کوچني، ژور ټپونه به ليدل کيږي.

## 2) Biopsy culture:

د ضرورت په وخت کي د اندوسکوپي په ذريعه **Biopsy** اخلو او **Culture** ته يي ليږو.

# Treatment:

هر انتان چي موجود وو نو هغه تداوي کوو يعني سببي تداوي کوو:

## 1) Candida:

که چيرته التهاب ددې له وجي منځته راغلي وي نو لاندي درمل ورکوو:

**A. Fluconazole**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لومړي ورځ **400mg** او له دې څخه وروسته **200mg** د **14-21** ورځو لپاره په ورځ کي یو ځل ورکوو، که ددي سره **Response** موجود نه وو یا ښه نه شو نو لاندي درمل ورکوو:

## B. Itraconazole

**200mg** په ورځ کي یوځل د **14-21** ورځو پوري ورکوو.

که ددي سره هم ښه نه شو نو ناروغ بستر کیږي او د **iv** له لاري **Conspofungin** په ورځ کي یوځل **50mg** ورکول کیږي.

## 2) Cytomegalovirus:

که د التهاب علت دا وي نو **HIV** ته فکر کوو او هغه تداوي کوو، د **HIV** تداوي په ډیرو حالتونو کي **Esophagitis** ښه کوي خو بیا هم ددي وایروس لپاره لاندي درمل ورکولای شو:

## A. Gancyclovir (IV) 5mg/kg/12hrs

د **3-6** هفتو پوري ورکوو. که ددي سره ښه نه شو نو لاندي درمل ورکوو:

## B. Foscarnet (IV) 90mg/kg/12hrs

## 3) Herpes:

که معافیت ځپونکي حالت نه وي نو درمل نه ورکول کیږي خپله ښه کیږي، خو که چیرته ښه نه شو یا معافیت ځپونکي حالت موجود وو نو لاندي درمل ورکوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**A. Acyclovir 400mg/5times (14 to 21)**

که ددي سره ښه نه شو نو لاندي درمل ورکوو:

**B. Foscarnet (IV) 40mg/kg/8hrs**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Gastritis and Gastropathy




تعریف:

**Gastritis** هغه حالت دي چي د معدي په سطحي طبقه کي د هستولوژي له نظره **visible** التهابي تغیرات ولیدل شي هغي ته ویل کیږي. خو **Gastropathy** د معدي د اپتیلیل هغه **Damage** یا ویجاړیدنه ده چي د التهابي وتیري په **Base** کي نه وي رامنځته شوي.

## Types:

1) **Acute Gastritis (Erosive or Hemorrhagic)**
2) **Chronic Gastritis (Non erosive)**
3) **Specific Types**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Acute Gastritis

په حاد شکل منځ ته راځي چي اسباب يي په لاندي ډول دي:

## 1) NSAIDs:

ددي درملو استعمال **20-50%** ناروغانو کي **Gastritis** پيدا کوي.

## 2) H-Pylori (Acute)

## 3) Alcohol:

الکول په نړۍ کي د **Gastritis** غټ لامل دي.

## 4) Stress:

په شديدو **Critical ill** ناروغانو کي لکه: **Shock**، **Sepsis**، **Burn**، **Liver failure**، **Renal failure**، **Major trauma** او **Mechanical ventilation** چي ولري نو **Gastritis** ورته پيدا کيدلي شي.

## 5) Portal Hypertensive Gastropathy

(c) ketabton.com: The Digital Library



| 21.33 Common causes of gastritis |
|---|
| **Acute gastritis (often erosive and haemorrhagic)** |
| • Aspirin, NSAIDs<br>• *Helicobacter pylori* (initial infection)<br>• Alcohol<br>• Other drugs, e.g. iron preparations<br>• Severe physiological stress, e.g. burns, multi-organ failure, central nervous system trauma<br>• Bile reflux, e.g. following gastric surgery<br>• Viral infections, e.g. CMV, herpes simplex virus in HIV/AIDS (p. 316) |
| **Chronic non-specific gastritis** |
| • *H. pylori* infection<br>• Autoimmune (pernicious anaemia)<br>• Post-gastrectomy |
| **Chronic 'specific' forms (rare)** |
| • Infections, e.g. CMV, tuberculosis<br>• Gastrointestinal diseases, e.g. Crohn's disease<br>• Systemic diseases, e.g. sarcoidosis, graft-versus-host disease<br>• Idiopathic, e.g. granulomatous gastritis |
| (CMV = cytomegalovirus; NSAIDs = non-steroidal anti-inflammatory drugs) |

# Clinic:

لومړي شاید ناروغي په خفیف حالت کي وي بي عرضه وي او یا شاید په عرضي حالت کي لاندي کلینیک ولري:

1. **Anorexia**
2. **Nausea**
3. **Vomiting**
4. **Epigastric Pain**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو کله چي **Hemorrhagic** وي یا **GI Bleeding** ورسره وي نو لاندي کلینیک به هم وي:

5. **Hematemesis**
6. **Melena**

# Investigations:

کلینیکي تشخیص یي کوو معایناتو ته خاص ضرورت نشته، خو که **GI Bleeding** وي نو **Blood exam** ورته کوو او لاندي شیان پکي ګورو:

I. **HB ↓↓**
II. **Hematocrit ↓↓**

د **H- pylori** لپاره یي بیا لاندي ټستونه اجرا کوو:

III. **Fecal antigen test**
IV. **Urea breath test**

**Endoscopy** هم په شکمنو حالتونو کي ترسره کیږي.

# Treatment:

سببي تداوي ترسره کیږي:

1. **NSAIDs Gastritis:**

د مخنیوي لپاره یي لاندي درمل ورکوو:

a) **Celecoxib**

دا په معده باندي کمي **Toxic** اغیزي لري تقریباً **75%** بدي اغیزي کموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



b) NSAIDs + Misoprostol
c) NSAIDs+ PPI

که چیري د **NSAIDs** له وجي **Gastritis** پیدا شوي وو نو **NSAIDs** بندیږي او د تداوي لپاره یي لاندي درمل ورکول کیږي:

A. **PPI (Omeprazole 20mg OD)**
B. **H2 Blockers (Famotidine 20mg OD)**
C. **Sucralfate**

2. **Stress Gastritis:**

یعني که علت یي **Stress** وي نو د مخنیوي لپاره چي په **Critical ill** ناروغانو کي **Gastritis** منځ ته را نه شي نو لاندي درمل ورکوو:

a) **H2 Blockers**
b) **PPI**
c) **Sucralfate**

که چیري د **Stress** له وجي **Gastritis** پیدا شوي وي چي اکثره **Hemorrhagic** ورسره وي درملنه یي په لاندي ډول کیږي:

A. **IV Pantoprazole 80mg Bolus (Double dose)**
B. **Then 8mg/1hr for 72hrs Infusion**

3. **Alcohol:**

که چیرته یي علت الکول وي نو لومړي باید الکول استعمال کم کړل شي او یا یي بیخي استعمال نه کړي خو که چیرته یي **Gastritis** منځ ته راوړي وي نو لاندي درمل ورکوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



A. PPI
B. H2 Blockers
C. Sucralfate

4. Portal Hypertensive Gastropathy:

ددي لپاره لاندي درمل ورکوو:

A. Propranolol
B. Nodolol
C. Carvidolol

# Chronic Gastritis

## Or Non Erosive

## Or Non Specific

اسباب یي په لاندي ډول دي:

1) Chronic H-pylori Gastritis:

ددي اختلاطات په لاندي ډول دي:

I. Atropic Gastritis
II. Gastric CA
III. Peptic ulcer
IV. ITP (Idiopathic thrombocytopenic purpura)

## Diagnosis of Chronic H-Pylori:

a) Fecal Antigen test
b) Urea breath test

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Treatment:

## H-pylori eradication:

د **H-pylori** د له منځه وړلو لپاره لاندي دري ډوله ریژیمونه د **7-14** ورځو پوري ورکول کیږي او دهغي څخه وروسته **PPI** بیا د **6-8** هفتو پوري ورکول کیږي ترڅو د قرحي جوړیدنه پرمخ بوځي.

دغه ریژیمونه په لاندي ډول دي:

لومړي رژیم:

1. **Clarithromycin 500mg/BID**
2. **Amoxicillin 1gr/BID**
3. **PPI(Omeprazole 20mg)BID**

دوهم رژیم:

1. **Tetracycline 500mg/QID**
2. **Metronidazole 250mg/QID**
3. **Bismuth 262,5mg/QID**
4. **PPI (Omeprazole 20mg) QID**

دریم رژیم:

1. **Levofloxacin 250mg/BID**
2. **Amoxicillin 1gr/BID**
3. **PPI(Omeprazole 20mg)BID**
4. **Nitazoxanide**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددي ريژيمو څخه هر يو يي د **7-14** ورځو لپاره ورکول کيږي او د هغي څخه وروسته **PPI 20mg** د ورځي يو ځل **6-8** هفتو لپاره ورکول کيږي.

## 2) Auto immune Gastritis:

دا **Autoimmune** منشاء لري، دا به يا د نورو **Autoimmune** ناروغيو سره وي او يا به **Family** تاريخچه مثبت وي. په دي کي به د **Parietal cell** او **Intrinsic factor** په مقابل کي **Antibody** موجوده وي.

کله چي د **Parietal cells** په مقابل کي انتي باډي جوړه شي نو **HCL** نه جوړيږي چي **Achlorhydria** ورته وايي خو کله چي **HCL** کم شي نو **Gastrin** زياتيږي په نتيجه کي **Enterochromafin** به **Hyperplasia** وکړي چي په معده کي د **Carcinoid tumor** سبب ګرځي.

خو که چيرته انتي باډي د **Intrinsic factor** په مقابل کي موجوده وي نو د **Vit B12** جذب کميږي چي **Vit B12 Deficiency** او يا هم **Pernicious anemia** به منځ ته راوړي. ددي د تداوي لپاره بيا په زرقي ډول **Vit B12** ورکوو.





(c) ketabton.com: The Digital Library



# Peptic ulcer Disease (PUD)




## تعريف:

دا اصلآ د معدي او **Duodenum** د مخاطي طبقي **Mucosal laceration** يا تپ واقع کيدل دي. کله چي د **Peptic ulcer** کليمه ياديږي نو د **Gastric ulcer** او **Duodenal ulcer** نوم د يادولو دي.

ددغه تپ اندازه **5mm** څخه زياته وي او د هستولوژي له نظره دغه تپ د **Muscularis mucosa** طبقي پوري رسيږي.

**Peptic ulcer** د نارينه وو په نسبت په ښځو کي ډير واقع کيږي.

**Duodenal ulcer** د **30-55** کلنۍ عمر کي او **Gastric ulcer** د **55-70** کلنۍ عمر کي پيدا کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






Fig. 21.36 Sequence of events in the pathophysiology of duodenal ulceration.

# Causes:

## 1) H- Pylori:

د **Duodenal ulcer** تقریباً **90%** سبب **H-pylori** ده او د **Gastric ulcer** تقریباً **70%** سبب **H-pylori** ده.

## 2) NSAIDs:

په لاندي حالتونو کي د **NSAIDs** له وجي **PUD** منځته راځي:

a. **50%** خلک چي دغه درمل اخلي نو په **Gastritis** اخته کیږي او **Gastritis** بیا په **10-20%** **PUD** باندي بدلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



b. د 60 کلنۍ عمر څخه زیات خلک چي NSAIDs اخلي په PUD د اخته کیدو چانس یي ډیر وي.

c. کله چي NSAIDs په Long duration واخیستل شی بیا هم د PUD سبب کیږي.

d. کله چي NSAIDs په Large dose سره واخیستل شی بیا هم د PUD سبب کیږي.

e. کله چي د NSAIDs سره یوځاي Steroids واخیستل شي.

f. کله چي Multiple NSAIDs استعمال شي.

(NSAIDs+ Aspirin)

g. Peroxicam ډیر زیات Ulcerogenic دي.

د NSAIDs درملو کي لاندي درمل لږ بنه دي یعني کم Ulcerogenic تاثیرات لري او د PUD د منځته راتلو چانس پکي کم وي:

i. Ibuprofen
ii. Celecoxib

خو د Celecoxib استعمال د اوږدي مودي لپاره د HTN، CVA او Stroke خطرونه دوه چنده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**3) Smoking:**

**Smoking** د لاندي تاثیراتو په لرلو سره د **PUD** دا په نادرو اسبابو کي راځي. سبب ګرځي:

a. کله چي یو څوک **Smoking** کوي نو د **Prostaglandin** سویه کموي او د معدي ساتونکي تاثیرات له منځه ځي.

b. **Smoking** د معدي **HCL** زیاتوي.

c. **Smoking** د معدي **Mucosa** طبقي ته د ویني جریان کموي.

d. **Smoking** مستقیماً **H-pylori** ته زمینه برابروي.

e. **Smoking** د **Ulcer healing rate** کموي یعني د **Ulcer** د جوړیدو موده اوږدوي.

**4) Genetics:**

جنتیک د **Peptic ulcer** سره نږدي اړیکي لري که یو څوک **PUD** ولري نو د کورنۍ **20%** غړي به یي **Peptic ulcer** لري.

کله چي دغه کورنۍ معاینه شي نو د **Parital cell mass** اندازه پکي زیاته وي.

**5) Blood Group(O):**

د **O** ګروپ لرونکي خلکو کي د **PUD** پیښي زیاتي وي.

**6) Chronic Medical Disease:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولي هغه ناروغي چي مزمن سیر ولري نو **PUD** چانس پکي زیات وي لکه:

i. **COPD**
ii. **Cor Pulmonale**
iii. **Liver cirrhosis**
iv. **Renal failure**




## Clinic:

### 1. Epigastric Pain:

دغه دردونه اکثره د **PUD** په ټولو ناروغانو کي وي چي په لاندي شکلونو د ناروغ لخوا حکایه کیږي:

i. **Dull**
ii. **Discomfort**
iii. **Dyspepsia**
iv. **Burning**

دغه درد **well localize** وي یعني ناروغ یي د یوي ګوتي په واسطه د درد ساحه مشخص کوي چي دي ته **Pointing sign** وایي او کله چي دا علامه مثبت وي نو په **PUD** دلالت کوي.

دغه دردونه د غذا سره نږدي اړیکي لري، که چیري **Duodenal ulcer** وي نو دغه درد به د لوږي په وخت کي پیدا کیږي او که چیرته **Gastric ulcer** وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دغه درد به د ډوډوي خوړولو څخه وروسته پیدا کیږي. نو د همدي له وجي د **Duodenal ulcer** ناروغان زیات خوراک کوي چاغ وي او د **Gastric ulcer** ناروغان کم خوراک کوي او ډنګر وي.

2. **Nausea**
3. **Vomiting**
4. **GI Bleeding**
5. **Epigastric Tenderness**

| | Duodenal Ulcer | Gastric ulcer |
|---|---|---|
| Age | Any age specially 30-40 | middle age 50-60 |
| Sex | More in male | More in female |
| Occupation | Stress job eg. Manager | Same |
| Pain | Epigastric , discomfort | Epi. Can radiate to back |
| Onset | 2-3 hours after eating & midnight | Immediately after eating |
| Agg.by | Hunger | Eating |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | Duodenal Ulcer | Gastric ulcer |
|---|---|---|
| Relived by | Eating | Lying down or vomiting |
| Duration | 1-2 months | Few weeks |
| Vomiting | Uncommon | Common(to relieve the pain) |
| Appetite | Good | Pt. afraid to eat |
| Diet | Good , eat to relieve the pain | Avoid fried food |
| Weight | No wt. loss | wt. Loss |
| Hematemesis | 40% | 60% |
| Melena | 60% | 40% |

## Investigations:

کله چي **Red flag sign** نه وي موجود، ناروغ ځوان وي، تاريخچه مثبت وي او د **PUD** کلينيکي اعراض ښکاره وي نو هيڅ ډول **Investigation** ته اړتيا نشته خو په شکمن حالت کي لاندي معاينات اجرا کيږي:

### 1. Endoscopy:

ښه او انتخابي معاينه ده چي لاندي ګټي لري:

- په تشخيص کي مرسته کوي
- د **Gastric ulcer** ناروغانو کي دريمه حصه **Malignancy** خطر موجود وي نو د ددي په واسطه **Biopsy** اخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○ ددي معايني په واسطه د **H-pylori** کلچر اخلو.

2. **H-pylori Test:**
   a) **Fecal antigen test**
   b) **Urea breath test**
3. **Blood Exam(CBC):**
   a) **HB ↓↓**
   b) **HCT ↓↓**
   c) **Leukocytosis:**

کله چي **ulcer** اختلاطي شي نو **Perforation** ورکوي او د پریتوان په جوف کي **Peritonitis** منځته راوړي چي د **Peritonitis** په **Base** کي **Leukocytosis** منځته راځي.

   d) **Amylase ↑↑:**

د **Amylase** سویه د **Ulcer penetration to Pancreas** له وجي زیاتیږي.

4. **Abdominal CT Scan**

## Deferential Diagnosis:

1) **Non ulcer dyspepsia:**

د تنفسي سیستم پورتني برخي ناراحتي ته **Dyspepsia** ویل کیږي. دا په ځوانو انجونو کي وي چي د **NSAIDs** تاریخچه ونلري، **H-pylori** پکي مثبت نه وي او **Epigastric tenderness** هم نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 2) Cholicystitis:

د صفرا کڅوړي التهاب: کله کله نادرآ **Epigastric** دردونه او نادرآ **Epigastric tenderness** موجود وي. خو لوړه درجه تبه په کي وي، په چاغو خلکو، ښځينه وو کي وي او **Murphy sign** پکي مثبت وي.

### 3) Rupture to Abd Aorta Aneurysm:

په دي کي هم **Epigastric pain** وي خو کله چي **Aorta** د **Rupture** سره مخ شي نو ناروغ **Hemodynamic unstable** وي يعني **Shock** په لوحه کي راځي.

### 4) Pancreatitis:

په **LUQ** کي **Tenderness** موجود وي، کمربند مانند درد پکي وي او د **Amylase** سويه پکي لوړه وي.

## Treatment:

**A**. عمومي اهتمامات:

a) **Smoking** بندول

b) **Alcohol** بندول

c) **NSAIDs** بندول

### B. Pharmacological Treatment:

د تداوي لپاره يي دري لاري وجود لري:

### 1) Acid Secretion ↓↓:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسیدو کمول چي دوه درمل ورکوو:

I. **H2 Blockers**
II. **PPI**

**H2 blockers** د **Parietal** حجراتو **65%** اسید نهي کوي. کله چي ناروغ ته ورکول کیږي نو په **80%** پیښنو کي د **6-8** هفتو په موده کي **Ulcer** ښه کیږي. (**Famotidine**) یي ښه درمل دي.

**PPI** دا درمل د **H2 blockers** په نسبت ښه دي ځکه که یو ناروغ ته ورکړل شي نو د **Parietal** حجراتو **90%** اسید نهي کوي، دا ډیر زر د ناروغ اعراض ښه کوي، په **90%** پیښنو کي د **4-8** هفتو په موده کي د **Ulcer** د جوړیدو سبب ګرځي. (**Pantoprazole**) یي ښه درمل دي.

## 2) Mucosal Protective Agents:

### I. Sucrulfate:

**1gm/6hrs/ before one hour meal**

دا که په نهاره وخوړل شي نو د **Ulcer** په **Base** کي ځان پوښوي او هلته پټیږي او د **Ulcer** د ښه کیدو سبب ګرځي.

### II. Bismuth (Subsalicylate):

دا **Dual action** لري یعني د **H-pylori** ضد تاثیر هم لري او د **Mucosa** خفاظت هم کوي.

### III. Misoprostol:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د پروستاګلنډین **Analogue** دي، د ګیډې دردونه او د رحم تقلصات پیدا کوي نو له همدي امله ځوانو انجونو ته نه ورکول کیږي.

### IV. Anti-acid:

د ناروغ د اعراضو په اني ډول له منځه وړلو لپاره ورکول کیږي.

### 3) H-pylori Eradicate:

د **H-pylori** له منځه وړل په دې کي لومړي رژیم انتخابي رژیم دي چي په مخکي درس کي مو تري یادونه کړي ده.

## Complications of Peptic ulcer:

که **PUD** تداوي نه شي وخت پرې واوړي نو یو شمیر اختلاطات ورکوي چي مهم یې په لاندي ډول دي:

1) **Ulcer perforation**
2) **Gastric outlet obstruction**
3) **Ulcer bleeding**

### 1) Ulcer perforation:

کله چي **Peptic ulcer** د **Duodenum** برخه کي واقع وي نو د **Perforation** چانس زیاتیږي، کله چي **Perforation** منځ ته راځي نو د **Ulcer** محتویات **Peritoneal cavity** ته ځي او د **Peritonitis** سبب کیږي. په دې ناروغانو کي د **NSAIDs** تاریخچه مثبت وي. کله چي **Peritonitis** منځ ته راشي نو په ناروغ کي په اني ډول سره شدید درد په ګیډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي پیدا کیږي چي دغه درد لومړي د ګیډي په پورته برخه کي وي او وروسته یا په ګیډه کي خپریږي. په فزیکي معاینی سره دغه ناروغان ډېر **Generalized** سطحي تنفس کوي. کله چي د دوي د ګیډي فزیکي معاینه ترسره کیږي نو ګیډه **Immobile** وي یعني په تنفس کي برخه نه اخلي.

همدارنګه **Generalized tenderness** او ورسره **Rigidity** یا د بطن د جدار د عضلاتو شخوالي موجود وي. په فزیکي معاینه کي کله چي ستاتسکوپ ددوي په ګیډه کیښودل شي نو **Bowel sound** نه وي موجود.

د **Perforation** د تشخیص لپاره ښه معاینه **X-ray** ده. په نورمال حالت کي د حجاب حاجز لاندي هیڅ هوا شتون نه لري خو کله چي په **X-ray** کي د **Diaphragm** لاندي هوا ولیدله شوه نو د **Ulcer** په **Perforation** باندي دلالت کوي. په ډېر شکمن حالت کي حساسه معاینه **Abdominal CT scan** دي چي دا ترټولو ښه معاینه ده. د **Perforation** تداوي لپاره طبي درملنه موثّره نه ده او جراحي درملنه ترسره کیږي.






(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2) Gastric outlet obstruction:

کله چي **Ulcer** د معدي په **Pyloric** برخه کي واقع شي نو د **GOO** چانس پکي زياتيږي دلته د معدي د تخليي په مقابل کي **Obstruction** موجود وي. د **GOO** عمده اسباب په لاندي ډول دي:

a) د **Peptic ulcer** له وجي **Edema** پيدا کيږي.

b) د **Peptic ulcer** له وجي **Fibrosis** تشکل کوي او **Stricture** يا تنګوالي پيدا کوي.

دغه ناروغان لاندي ګيلي لري:

**a) Nausea**

**b) Vomiting**:

په شديد **GOO** کي به په کانګو کي د تيرو **24** ساعتونو غذايي محتويات موجود وي.

**c) Post prandial fullness**:

ژر مړيدل، د معدي ډکيدو احساس

**d) Weight loss**

او کله چي **GOO** شديد شي نو:

**e) Dehydration**

**f) Alkalosis**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## g) Hypokalemia

د تشخیص لپاره یي په فزیکي معاینه کي **Gastric splash** عملیه اجرا کیږي.

که چیرته د غذا د خوړلو څخه **4** ساعته وروسته **Gastric splash** مثبت وو یا اوازونه واوریدل شو نو دا په **GOO** باندي دلالت کوي.

همدارنګه په فزیکي معاینه کي یي **Visible peristalsis** لیدل کیږي چي دا حرکات په نورمال حالت کي نه وي، دغه حرکات به په **Epigastric** ساحه کي وي او بیا به ښي طرف ته ځي.

د تشخیص لپاره یي غوره معایني:

1. **Barium meal**
2. **Endoscopy**

تداوي لپاره یي د **IV** له لاري **4** لیتره مایعات **(Normal saline)** ورکول کیږي ددي ترڅنګ **Potassium** او د **IV** له لاري **PPI** هم ورکوو ځکه هلته چي کومه **Edema** منځ ته راغلي د هغي د منځه وړلو لپاره.

که ناروغ ددي سره هم ښه نه شو نو **Endoscopic dilatation** ورته اجرا کوو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# 3) Ulcer Bleeding:

کله چې السر **Deep** لاړ شي نو هلته رګونه دي او د هغې د څیرې کیدلو سبب ګرځي او **Bleeding** واقع کیږي چې ورته **Upper GI bleeding** وایي.

کله چې دا **Bleeding** ورکړي نو **hematemesis** او **melena** ناروغ ته پیدا کیږي او کله کله ورسره **Hematochezia** (په ډکو متیازو کي تازه وینه) هم پیدا کیږي. چې دا بیا ډیر خراب حالت دي او ددي د پیدا کیدو لپاره دوه احتماله وي:

**a**) خونریزي به د **1000cc** څخه زیاته وي

**b**) د کولمو **Transit** به سریع وي

په دې ناروغانو کي د **HB** او **HCT** سویه کمیږي خو د **BUN** سویه پکي زیاتیږي. دغه ناروغان ډیر زر احیایي مجدد یعني مایعات ورکوو او بستر کوو یې له دې څخه وروسته **PPI** (**Pantoprazole**) د **IV** له لاري **80mg bolus** او ددي په تعقیب **8mg** د **Infusion** په ډول د 72 ساعتونو لپاره ورکوو.

د تشخیص لپاره ناروغ ته **Endoscopy** اجرا کوو، چې دا معاینه دلته دوه ګټي لري:

**a**) د **Rebleeding** اندازه ښایي.

**b**) د اندوسکوپي په واسطه تداوي کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي په اندوسکوپي کي **Clear base ulcer** موجود وو نو د **Rebleeding** اندازه به **5%** وي.

که چیري **Red or Black spot** موجود وو نو د **Rebleeding** چانس به **10%** وي.

که چیري **Visible** رګ موجود وي خو **bleeding** نه وي نو د **Rebleeding** چانس به **50%** وي.

او که چیري **visible bleeding** موجود وو نو د **Rebleeding** چانس به **80-90%** پوري وي.

اندوسکوپیک درملنه د جراحي تداوي لپاره چانس کموي او دغه درملنه په لاندي دري طریقو ترسره کیږي:

**A. Injection therapy:**
- **Epinephrine**

**B. Thermal therapy:**
- **Theromcoagulation**

**C. Mechanical therapy:**
- **Endoscopic clips**






(c) ketabton.com: The Digital Library



## 21.34 Methods for the diagnosis of *Helicobacter pylori* infection

| Test | Advantages | Disadvantages |
|---|---|---|
| **Non-invasive** | | |
| Serology | Rapid office kits available<br>Good for population studies | Lacks specificity<br>Cannot differentiate current from past infection |
| $^{13}$C-urea breath test | High sensitivity and specificity | Requires expensive mass spectrometer |
| Faecal antigen test | Cheap, specific (> 95%) | Acceptability |
| **Invasive (antral biopsy)** | | |
| Histology | Specificity | False negatives<br>Takes several days to process |
| Rapid urease test | Cheap, quick, specific (> 95%) | Sensitivity 85% |
| Microbiological culture | 'Gold standard'<br>Defines antibiotic sensitivity | Slow and laborious<br>Lacks sensitivity |

## 21.35 Common side-effects of *Helicobacter pylori* eradication therapy

- Diarrhoea: 30–50% of patients; usually mild but *Clostridium difficile*-associated diarrhoea can occur
- Flushing and vomiting when taken with alcohol (metronidazole)
- Nausea, vomiting
- Abdominal cramps
- Headache
- Rash

## Management

## 21.36 Indications for *Helicobacter pylori* eradication

**Definite**

- Peptic ulcer
- Extranodal marginal-zone lymphomas of MALT type
- Family history of gastric cancer
- Previous resection for gastric cancer
- *H. pylori*-positive dyspepsia
- Long-term NSAID or low-dose aspirin users
- Chronic (> 1 year) PPI users
- Extragastric disorders:
  - Unexplained vitamin $B_{12}$ deficiency*
  - Idiopathic thrombocytopenic purpura*
  - Iron deficiency anaemia* (see text)

**Not indicated**

- Gastro-oesophageal reflux disease
- Asymptomatic people without gastric cancer risk factors

*If *H. pylori*-positive on testing.
(MALT = mucosa-associated lymphoid tissue; NSAID = non-steroidal anti-inflammatory drug; PPI = proton pump inhibitor)

## 21.37 Indications for surgery in peptic ulcer

**Emergency**

- Perforation
- Haemorrhage

**Elective**

- Gastric outflow obstruction
- Persistent ulceration despite adequate medical therapy
- Recurrent ulcer following gastric surgery

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Zolinger elison Syndrome (ZES)
## (Gastrinoma)




دا یو ډیر نادرآ د پانکراس تومور دي چي په دري شیانو متصف دي:

1. **Acid Hyper secretion**
2. **Sever peptic ulcer**
3. **Non beta cell tumor**




**ZES** اکثره په **30-50** کلنۍ عمر کي واقع کیږي. دا تومور شاید یو دانه او یا هم **Multiple** یا څو داني وي. ددغه تومور اندازه **1mm-2cm** پوري وي. ددغه تومور لپاره **Usual site** لاندي ځایونه دي:

**a)Pancreas**
**b) Duodenum**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي **90%** پيښنو کي دلته واقع کيږي. او **10** په **unusual site** کي ډير نادرآ پيدا کيږي چي دغه ځايونه په لاندي ډول دي:

a) **Heart**
b) **Kidney**
c) **Peritoneal cavity**
d) **Liver**

# Pathophysiology:

دغه تومور **(Gastrinoma)** په ډيري اندازي سره **Gastrin** افرازوي چي د **Hyper gastrinemia** سبب ګرځي، کله چي **Gastrin** زيات افراز شي نو **Parietal cell** به ډير تنبه شي او د معدي د اسيدو اندازه به زياته شي دغه اندازه حتآ تردې پوري زياتيږي چي د معدي **PH** د **2** پوري راښکته کيږي چي دا ډير اسيدي **PH** دي. کله چي دا حالت منځ ته راشي نو د لاندي مشکلاتو سبب ګرځي:

1) **Peptic ulcer**
2) **Steatorrhea:**

د پانکراس **lipase** انزايم غيري فعاليږي نو شحم به نه جذبيږي او **Steatorrhea** به منځ ته راشي.

3) **Diarrhea:**

د **Direct mucosal injury** د کولمو په مخاطي طبقه باندي مستقيم ويجاړونکي تاثير لري نو مايعات او غذايي مواد به نه جذبيږي او د **Diarrhea** سبب ګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library






# Clinic:

1. **Peptic ulcer:**

دا **Peptic ulcer** له هغي **Peptic ulcer** څخه یو څه توپیر لري، د **Peptic ulcer** لپاره **Usual site** معده او **Duodenum** دي خو دا **Peptic ulcer** په **unusual site** کي یعني د معدي او **Duodenum** څخه علاوه په مری، **Jejunum** او **Ileum** کي واقع کیږي. دغه السرونه **Multiple** او غټ وي چي اندازه یي د **2cm** څخه زیاته وي. د درملني په مقابل کي **Resistance** یا مقاومت لري. په دغه ناروغانو کي به **H-pylori** منفي او د **NSAIDs** تاریخچه به هم نه لري.

2. **Diarrhea**
3. **Steatorrhea**
4. **Weight loss**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Investigations:

## a) Serum gastrin level:

د سیروم ګاستړین **Level** معلومو. نارمل اندازه یې **0-180ng/L** ده کله چې **Gastrinoma** موجوده وي دغه اندازه تر **200** پورې او په شدیدو حالتونو کې **1000-1500ng/L** پورې رسیدلي شي.

## b) Secretin stimulation test:

په دې کې ناروغ ته د **IV** له لارې د **Secretin** د **2IU/kg** پورې ورکوو، نو که چیرې **Gastrinoma** ونلري نو د **Gastrin level** کې کوم تغیر نه راځي خو که **Gastrinoma** موجوده وي نو د **Gastrin level** کې به تغیر راځي دفعتآ **Rapid raise** به اندازه زیاتیږي.

## c) CT scan
## d) MRI

**CT scan** د تشخیص سره سره د تومور **Location** او د **Metastasis** په اړه معلومات راکوي. ګاسترینوما **2/3 malignant** منشاء لري او لومړی ځیګر ته میتاستازس ورکوي.

# Treatment:

داسې درمل ورکوو ترڅو د **Parietal cell** افراز کم کړي، څرنګه چې دغه ناروغان د **NSAIDs** تاریخچه نلري، **H-pylori** هم منفي وي د **Peptic**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ulcer** سره **Diarrhea** او **Steatorrhea** هم لري نو تداوي په لاندي ډول ده:

### A. PPI

دا ښه درمل دي چي په **High dose** او **Continuous** دوامداره شکل سره په **Double** یا **Triple** ډوز سره **80-120mg** پوري ورکوو. نو د ناروغ یوائي اعراض ښه کوي خو د **PPI** ورکړه د تومور د **Growth** د تومور د **Metastasis** څخه مخنیوي نه شي کولاي نو د **PPI** سره سره ناروغ ته **Surgical removal of tumor** اجرا کیږي.

یوائیني **Diarrhea** دلته ده چي د **PPI** سره ښه کیږي.

### B. Octerotid

دا د **Sub cutaneous** له لاري په هفته کي د **Injection** له لاري ورکول کیږي او د تومور څخه د **Gastrin** افراز نهي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Upper GIs Bleeding

هغه وینه بهیدنه چې منشاء یې د **Treitz ligament** څخه پورته وي.

## Causes:

1. **Peptic ulcer (50%)**
2. **Erosive gastritis**
3. **Esophagitis (10%)**
4. **Esophageal gastric varices:**

چې علت یې **Portal HTN** او **Liver cirrhosis** وي.




. 21.19 Causes of acute upper gastrointestinal haemorrhage. Frequency is given in parentheses. (NSAIDs = non-steroidal anti-inflammatory drugs)

## Clinic:

1) **Hematemesis**
2) **Melena**

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 3) Hemorrhagic shock

کله چي ناروغ **Massive GIs bleeding** ورکړي وي نو دغه شاک به موجود وي.

### 4) Hematochezia (10%)

کله چي د **Upper GIs Bleeding** ناروغ **Hematochezia** ولري نو دا خطري نښه یا **Red flag sign** دي چي د **Massive bleeding** له وجي چي د خونریزي اندازه د **1000cc** پوري او د کولمو **Transit** سریع وي منځ ته راځي.

د ناروغ په فزیکي معاینه کي د ناروغ **Hemodynamic** حالت ارزیابي کوو. چي ددي ارزیابي لپاره دوه لاري وجود لري:

1. **HR**
2. **BP**

ترڅو پوه شو چي ناروغ څومره وینه او څو فیصده وینه ضایع کړي ده.

کله چي **HR** او **BP** نارمل وي نو ناروغ به **Minor bleeding** ورکړي وي، که د ناروغ **HR** زیات او **BP** يي نارمل وي نو **Moderate bleeding** به يي ورکړي وي او که چیري **HR** زیات او **BP** کم وي نو د وجود **40%** وینه به ضایع شوي وي ناروغ به شاک **(Hemorrhagic shock)** حالت کي وي او **Sever bleeding** به يي ورکړي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Treatment:

لومړني اهتمامات:

1. **Admit:**

ناروغ بستر کوو.

2. **IV Canula**
3. **Blood group:**

د **Canula** څخه وينه اخلو د لابراتواري معايناتو او د ويني د ګروپ د معلومولو لپاره ځکه دغه ناروغان په کانګو کي زياته وينه ضايع کوي نو ويني ته يي ضرورت پيښيږي، له دې څخه وروسته لاندي معاينات هم ورته اجرا کيږي:

4. **CBC**
5. **LFT**
6. **KFT**
7. **INR**
8. **NPO:**

په ناروغ باندي د خولي له لاري هرڅه بندوو.

9. **Oxygen:**

کله چي ناروغ په شاک کي وي.

10. **NaCl (0,9%) Normal saline:**

د **Intra vascular volume** د اعاده کولو او د **Hemodynamic** حالت د ښه کولو لپاره دا ورکوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځینو حالتونو کې د **Ringer lactate** د ورکړې څخه هم یادونه شوې ده.

کله چې د وینې ګروپ معلوم شو نو:

## 11. BT:

**BT** ناروغ ته کوو ددې لپاره کوم معلوم استطباب **(Clear cut indication)** نشته خو د داکتر قضاوت پورې اړه لري.

دا ټول اهتمامات یې په بستر کې ترسره کیږي.

سببي تداوي:

1) **Peptic ulcer:**
   a) **IV PPI 80mg boulls then 8mg/hr for 72hrs infusion**
   b) **Platelets transfusion:**

کله چې د ناروغ **Platelets** د **50000** څخه کم شوي وو نو ورته **PT** اجرا کوو.

ځینو کتابونو کې یادونه شوې ده که سبب یې هر څه وي نو که **IV PPI** ورکول شي ښه اغیزې لري.

2) **Gastric esophageal varices:**
   a) **Octerotid 100microG bollus then 100microG/hr infusion**

دغه درمل **Splanchnic blood flow** کموي او **Portal HTN** کمیږي نو **Varices related bleeding** هم کمیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



3) **Therapeutic Endoscopy:**
   a) **Injection therapy**
   b) **Thermal therapy**
   c) **Mechanical therapy**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Lower GIs Bleeding

د هضمي سیستم هغه وینه بهیدنه چي منشاء یي د **Ligament traitiz** څخه ښکته وي، په **95%** پیښو کي د **Lower GIs Bleeding** منشاء د **Colon** څخه ده، دغه **Bleeding** په زړو خلکو کي وي او کوم چي **Aspirin** یا **NSAIDs** استعمال لري.

ددغه ناروغانو په کلینیک کي **Hematochezia** موجوده وي، **Melena** پکي نادراً وي.

## Causes:

1. **Diverticulum:**

**50%** سبب یي همدا دي. په زړو خلکو کي وي چي دغه **Bleeding** په **80%** پیښو کي خپله ښه کیږي او دغه وینه بهیدنه لاندي اوصاف لري:

   a) **Acute**
   b) **Painless**
   c) **Massive**

2. **Neoplasm:**

دا کیدلي شي په کولون کي په **Benign** شکل لکه **Colon polyps** او یا په **Malignant** شکل لکه **Colon CA** په ډول پیدا شي.

3. **IBD:**

a) **Chron's disease**
b) **Ulcerative colitis**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کې وينه بهيدنه **Chronic** وي د ګېډې درد **(Cramps)** او اسهال ورسره وي.

## 4. Ischemic colitis:

دا اکثره په زړو خلکو کې چې **Atherosclerosis** او يا **Atherosclerotic plaque** ولري موجود وي. په ځوانانو کې نادر وي او په هغه ښځو کې چې استروجن اخلي هم موجود وي، خونريزي پکې **Mild** وي او **Self-limited** وي يعني خپله ښه کيږي.

## 5. Infectious colitis:

**Shigellosis**، **Salmonellosis**، **Ameobiasis** او **E coli** له وجې انتاني **Colitis** او د هضمي سيستم وينه بهيدنه منځ ته راځي.

دا په **Dysentery** يا **Bloody diarrhea** لوحه کې تظاهر کوي.

## 6. Anorectal disease:

په **Old age** او هغه ناروغان چې مزمن قبضيت ولري موجود وي لکه په **Hemorrhoids** او **Anal fissure** کې چې په **Hemorrhoids** کې وينه بې درده او په **Anal fissure** کې له درد سره يوځای وي.

ددې ناروغ د **Hemodynamic** حالت د ارزيابي لپاره **BP** او **HR** ګورو.

که **BP** او **HR** نارمل وو نو **10%** وينه به يې ضايع کړې وي چې په **Minor bleeding** دلالت کوي، که **BP** يې زيات او **HR** يې نارمل وو نو **10-20%**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینه به یي ضایع کړي وي چي په **Moderate bleeding** باندي دلالت کوي او که چیري **BP** زیات او **HR** کم وو نو **20-25%** وینه به یي ضایع کړي وي چي په **Massive bleeding** باندي دلالت کوي.

| | |
|---|---|
| **21.17 Causes of lower gastrointestinal bleeding** | |
| **Severe acute** | |
| • Diverticular disease | • Meckel's diverticulum |
| • Angiodysplasia | • Inflammatory bowel disease (rarely) |
| • Ischaemia | |
| **Moderate, chronic/subacute** | |
| • Fissure | • Large polyps |
| • Haemorrhoids | • Angiodysplasia |
| • Inflammatory bowel disease | • Radiation enteritis |
| • Carcinoma | • Solitary rectal ulcer |

## Treatment:

دغه ناروغي چي اسباب یي هم د جراحي دي نو د جراحي ناروغیو پوري اړه لري او طبي درملنه پکي دومره مهمه او موثره نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو عمومي اهتمامات یا احیایي مجدد د **Upper GIs bleeding** په شان ورته اجرا کولاي شو:

a) **Admit**
b) **IV canula**
c) **Serum saline**
d) **BT**
e) **Oxygen**
f) **Therapeutic colonoscopy:**

**Medically** ورته یواځي دا ترسره کولاي شو.

g) **Surgery**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Irritable bowel syndrome (IBS)

# (Irritable colon)




دا د غټو کولمو وظيفوي ناروغي ده يعني **Structural** او **Biochemical** تشوش نه دي. د ټولني **10-20%** خلک **IBS** لري. ناروغانو ته **Recurrent Abdominal pain** + **Abnormality of defecation** پيدا کيږي. اکثره په هغه خلکو کي چي عمر يي **20-30** کلنۍ پوري وي موجود وي. په ځوانو انجونو کي زيات وي (د نارينه وو په نسبت يکي **2-3** چنده زيات وي) او په هغه خلکو کي هم چي **Anxiety**، **Depression**، **Somatization** ولري موجود وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Pathophysiology:

دا چي ولي په **Depression**، **Anxiety** او نورو عصبي تشوشاتو کي پیدا کیږي داسي **Clear cut** دلیل نه دي معلوم خو کولمي او عصبي سیستم سره یوه اړیکه لري.

لاندي فکتورونه د **IBS** په منځته راتګ کي رول لري:

1. **Psychosocial Factors:**
   a) **Anxiety**
   b) **Depression**
   c) **Neurosis**
2. **Colon Hypersensitivity**
3. **Enteric infections:**

ددي په تعقیب شاید **IBS** پیدا شي لکه: که چیري کوم ناروغان **Bacterial gastroenteritis** ولري نو ددي په تعقیب **10%** پیښنو کي **IBS** پیدا کیږي چي دا اکثره په ځوانو انجونو کي وي.

4. **Abnormal mortality disorder:**

د کولون په حرکاتو کي مشکل پیدا کیږي لکه په **Stress** او خفګان حالت کي.

# Clinic:

ناروغ به مزمن کلینیک لري چي د شپږ میاشتو څخه به پري وخت زیات تیر شوي وي ناروغي به مزمنه شوي وي.

1. **Abdominal Pain:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګیډې درد به لري چي دا لاندي اوصاف لري:

a) **Pain in lower abdomen**
b) **Relive with defecation**
c) **Increased with stress**
d) **Pain in early morning**
e) **Night free** شپې به درد نه وي موجود
f) **Stool frequency and form changes:**

کله به اسهال او کله به قبضیت لري کله به تشناب ته ډېر او کله کم ځي.

2. **Diarrhea**
3. **Constipation**
4. **Mix Diarrhea and Constipation** (لکه یوه هفته اسهال بله هفته قبضیت)
5. **Abdominal Bloating and Distention**

ځیني نور نادر اعراض لکه:

1. **Unknown dysuria**
2. **Dysmenorrhea**
3. **Non ulcer dyspepsia**
4. **Sleep disorder**
5. **Headache**
6. **Atypical chest pain**
7. **Depression and Anxiety symptoms**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Investigations:

د کلینیک له مخي، تاریخچه، فزیکي معاینې او د هضمي سیستم د اعراضو له مخي تشخیص کیږي. ددې د تایید **(Confirm)** لپاره اساسي معاینه نشته خو که چیرې معاینات ترسره کوو نو د نورو ساختماني ناروغیو د رد **(Rollout)** لپاره یې ترسره کوو.

**21.63 Rome III criteria for diagnosis of irritable bowel syndrome**

Recurrent abdominal pain or discomfort on at least 3 days per month in the last 3 months, associated with *two or more* of the following:

- Improvement with defecation
- Onset associated with a change in frequency of stool
- Onset associated with a change in form (appearance) of stool

**21.64 Supporting diagnostic features and alarm features in irritable bowel syndrome**

**Features supporting a diagnosis of IBS**

- Presence of symptoms for more than 6 months
- Frequent consultations for non-gastrointestinal problems
- Previous medically unexplained symptoms
- Worsening of symptoms by stress

**Alarm features**

- Age >50 years; male gender
- Weight loss
- Nocturnal symptoms
- Family history of colon cancer
- Anaemia
- Rectal bleeding

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Treatment:

لومړي اهتمامات:

1) Patient education
2) Reassurance قناعت
3) Support
4) Diet changes:

لاندي خواړه چي د درد تشدیدو سبب کیږي نو په ورځني ژوند کي باید کم شي:

a) Fructose
b) Lactose
c) Sorbitol
d) Caffeine
e) Salad
f) Fat

1/3 ناروغان ددي تغیراتو او اهتماماتو سره Response وايي. که چیري ددي سره ښه نه شوو نو طبي درملنه ورته شروع کوو.

طبي درملنه: طبي درملنه په دریو کټګوریو ویشو او یو ورځخه انتخابوو:

## 1. Diarrhea:

که چیري ناروغ له اسهال څخه نارامه وو نو:

A. Fiber ↓↓ په ورځني ژوند کي به يي خوراک کموي

B. Lperamide دا د کولون حرکات کموي

(c) ketabton.com: The Digital Library



C. **TCA (tricyclic antidepressant):**
   a) **Imipramine**
   b) **Nor tryptyline**
D. **Rifaxamine**
E. **5 HT3 receptor antagonist:**
   a) **Alosetron**

## 2. Constipation:

که چيري ناروغ له قبضيت څخه نارامه وو نو:

A. **Fiber ↑↑**
B. **Ispaghulla**
C. **Lactulose**
D. **5 HT4 receptor:**
   a) **Procalopride**
E. **SSRI:**
   a) **Fluxotine**
   b) **Ecitalopram**

## 3. Pain, Bloating:

که چيري ناروغ د درد څخه نارامه وو نو:

A. **Dietary changes:**

هغه غذاګاني چي درد يي تشديدولو د هغي نه خوړل.

B. **Mebeverine**
C. **Hyosine**
D. **TCA**

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ددې دري واړه کټګوریو **(Steps)** سره بیا هم ښه نه شو نو بیا یې درملنه په لاندې ډول ده:

1. **Deluxe tine (SSNRI)**
2. **Hypnotherapy**
3. **Psychotherapy**




**Fig. 21.54 Management of irritable bowel syndrome.** (FODMAP = fermentable oligo-, di- and monosaccharides, and polyols)

**i 21.65 Dietary management of irritable bowel syndrome**

- Eat regularly and avoid missing meals
- Take time to eat
- Ensure adequate hydration and avoid carbonated and caffeinated drinks
- Reduce alcohol intake
- Reduce intake of 'resistant' starch and insoluble fibre
- Avoid foods with artificial sweeteners
- Consider a wheat-free diet
- Consider a lactose exclusion diet
- Consider a diet low in FODMAPs

(FODMAPs = fermentable oligo-, di- and monosaccharides, and polyols)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Inflammatory Bowel Disease (IBD)




د کولمو یوه **Idiopathic**، **Chronic** او **Inflammatory** ناروغي ده چي پکي دوه ناروغي (**Ulcerative colitis** کوم چي یوائې کولون اخته کوي او بل **Crohn's disease** چي د هضمي سیستم هره برخه اخته کولای شي) شاملي دي. **IBD** د **20-30** کلنۍ عمر کي ډیر پیدا کیږي.

## Pathophysiology:

څرنګه چي په تعریف کي یادونه وشوه چي دا یوه **Idiopathic** ناروغي ده خاص سبب میکانیزم یي نه دي معلوم خو ځیني نظریي موجودي دي:

**1) Dysregulated immune response (Autoimmune disease)**

دا جنتیکي منشاء لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځیني نوري نادري نظریي هم موجودي دي:

1. Smoking
2. Oral contraceptive
3. NSAIDs
4. Stress
5. Infections




**Fig. 21.44 Pathogenesis of inflammatory bowel disease.** (1) Bacterial antigens are taken up by specialised M cells, pass between leaky epithelial cells or enter the lamina propria through ulcerated mucosa. (2) After processing, they are presented to type 1 T-helper cells by antigen-presenting cells (APCs) in the lamina propria. (3) T-cell activation and differentiation results in a $Th_1$ T cell-mediated cytokine response (4) with secretion of cytokines, including interferon gamma (IFN-γ). Further amplification of T cells perpetuates the inflammatory process with activation of non-immune cells and release of other important cytokines, including interleukin 12 (IL-12), IL-23, IL-1, IL-6 and tumour necrosis factor alpha (TNF-α). These pathways occur in all normal individuals exposed to an inflammatory insult and this is self-limiting in healthy subjects. In genetically predisposed persons, dysregulation of innate immunity may trigger inflammatory bowel disease.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Ulcerative colitis (UC):

**UC** یواځي **Colon** اخته کوي. التهاب یواځي د **Mucosa** طبقي پوري محدود وي. **(Mucosal inflammation)** دي.

د وخت په تیریدو سره چي التهابي پروسه مزمنه شي او **Fibrosis** تشکل وکړي نو کولمي نرۍ، لنډیږي **(Shortened)** او **Pseudo polyps** پکي پیدا کیږي چي بیا پکي **Cryptitis** او **Crypt abscess** پیدا کیږي او کله چي **UC** نور هم دوامداره شي نو **Dysplasia** تاسس کوي چي دا **Colon CA** باندي بیا بدلیږي.

# Crohn's Disease (CD)

**CD** د هضمي سیستم هره برخه (د خولي جوف، کوچني او غټي کولمي) اخته کولای شي چي ډیر (**Ileum**، **Anal canal**، **Colon**) اخته کوي.

دا برخلاف د **UC** په دې کي التهاب د کولمو ټول دیوال (**Mucosa**، **Submucosa**، **Muscularis**) کي موجود وي. ( **Enteric wall inflammation**) وي.

د وخت په تیریدو سره **Deep ulcer** تاسس کوي چي دغه السرونه **Multiple** وي او د دوو السرونو ترمنځ مخاطي غشاء د **Cobble stone** منظره ورکوي. (**Skip lesion**)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وخت په تيريدو سره **Fistula** هم تاسس کوي چي شايد دغه **Fistula** په (**Vagina**، **Bladder**، **Uterus** او نورو ساختمانونو کي) جوړه شي.

# Clinic:

1. **Ulcerative Colitis:**
    - A. **Rectal bleeding**
    - B. **Mucosal diarrhea**
    - C. **Sever first attack:**

دا په لاندي ناروغانو کي وي:

- a) **Stress**
- b) **Infection**
- c) **NSAIDs**

ددي په تعقيب بيا لاندي دوه حالتونه پيدا کيږي:

- a) **Remission** ناروغ ښه کيږي
- b) **Relapse** ناروغي بيا پيدا کيږي

2. **Crohn's Disease:**
    - A. **Abdominal Pain**
    - B. **Diarrhea**
    - C. **Weight loss**
    - D. **Malabsorption symptoms** د وخت په تيريدو سره
    - E. د مختلفو ويټامينونو د جذب کموالي
    - F. **Fistula**
    - G. **Perianal disease:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



50% ناروغانو کي دا موجود وي چي لاندي ناروغي پکي دي:

a) Perianal Fistula
b) Perianal Fissure
c) Perianal Abscess

## Inflammatory bowel diseases summary

| Crohn's disease | Ulcerative Colitis |
|---|---|
| Any part of the GIT | Colon only |
| Skip areas of normal mucosa | Diffuse involvement of mucosa |
| Deep ulcers ( fissure ) | Superficial ulcers |
| Transmural inflammation | Mucosal inflammation only |
| Fistula formation | Not seen |
| Creeping mesenteric fat | Not seen |
| Fibrous thickening of wall | Not seen |
| Granulomas | Not seen |
| Dysplasia is rare | Dysplasia is common |
| Carcinoma is rare | Carcinoma is more common (10%) |

# Complications of IBD:

## 1. Intestinal Complications:

### a) Life threating colitis:

په دې کي **Toxic mega colon** پیدا کیږي حتآ د کولون تر **Diameter** **6cm** څخه زیاتیږي. **Colon** پکي کله کله **Perforation** ورکوي او د **Peritonitis** سبب ګرځي.

### b) Hemorrhage
### c) Fistula (CD)

(c) ketabton.com: The Digital Library



d) Cancer (UC)

2. Extra intestinal Complications:

a) Osteoporosis

b) Conjunctivitis

c) Oral ulcer (Ophtous ulcer)

d) Hepatitis

e) DVT (Deep venous thrombus):

دا بیا په **Pulmonary embolism** باندي بدلیږي.

f) Arthritis

g) Pyoderma gangrenusm




Fig. 21.52 **Systemic complications of inflammatory bowel disease.** See also Chapters 17 and 18. (HLA = human leukocyte antigen)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Investigations:

## 1) Blood Exam:

a) HB ↓↓
b) Albumin ↓↓
c) ESR ↑↑
d) CPR ↑↑

## 2) Fecal Cal protein ↑↑:

دا اصلآ يو پروټين دي په نارمل حالت کي يي اندازه په **Stool** کي کمه وي خو په **IBD** کي يي سويه لوړيږي. د **IBS** او **IBD** اعراض سره يوشان دي نو د ناروغيو د تفريقي تشخيص لپاره دغه ټسټ اجرا کيږي، ددغه پروټين اندازه په **IBS** کي ښکته او په **IBD** کي لوړه وي.

## 3) Colonoscopy:

ښه معاينه ده که چيري **UC** وي نو:

a) **Edematous** کولون به پړسيدلي وي.
b) **Vascular pattern** به له منځه تللي وي.
c) **Contact bleeding** به موجود وي.
d) **Pseudo polyps** به په کي ليدل کيږي.

او که چيري **CD** وي نو:

a) **Deep ulcer** به ليدل کيږي.
b) **Stricture** به موجود وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



c) **Cobble stone appearance** به موجود وي.

4) **Biopsy:**

د تشخیص د ښه **Confirm** کولو لپاره د **Colonoscopy** په واسطه اخیستل کیږي.

لاندي معاینات هم اجرا کیږي چي تغیرات پکي وي خو غیري وصفي معاینات دي:

5) **Barium meal**
6) **CT scan**
7) **MRI**
8) **U/S**

# Treatment:

1. **UC:**
   1) **Proctitis:**

   که دا موجود وو نو:

      a) **Topical Mesalazine**
      b) **Oral Mesalazine**
      c) **Steroids (Prednisolone)**
   2) **Pancolitis:**
      a) **Topical + Oral Mesalazine**
      b) **Steroids**
      c) **Azathioprine**
   3) **Life threating colitis:**
      a) **Admit**

(c) ketabton.com: The Digital Library



b) **NPO**
c) **IV fluid**
d) **IV steroids** (Methyl prednisolone IV 60mg/Daily)
e) **IV Cyclosporin**

f) **Daily Abdominal X-Ray:**

دغه ناروغ ته د کولون د **Diameter** لپاره روزانه **Abd x-ray** اخیستل کیږي، که **Colon** مخ په غټیدو وو او **Medical therapy failure** وو نو د کولون **Rupture** لپاره ناروغ مساعد دي او زر تر زره ورته **Surgical cololctomy** اجرا کیږي.

کله چې ناروغ ښه شو (**Remission**) نو د **Relapse** د مخنیوي لپاره د ټول عمر لپاره **Oral mesalazine** ورکول کیږي. ځیني ناروغان له دې سره هم نه ښه کیږي بیا ددي سره یوځاي **Steroids** ورکوو. او که ددي سره هم ښه نه شو نو بیا د عمري لپاره د معافیت ځپونکي درمل **Azathioprine** ورسره ورکول کیږي.

## 2. CD:

د حادې حملې تداوي:

a) **Budesonide:**

دا په کولمو کې **Local anti-inflammatory** اغیزه کوي خو په ځیګر کې غیري فعالیږي او د **Systemic** اعراضو څخه ناروغ ښه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**b) Prednisolone**
**c) Anti TNF, Azathioprine**

د اعاده حملي تداوي:

**a) Stop Smoking**
**b)Methotrexate** د اوږدي مودې لپاره د مخینوي په منظور توصیه کیږي

**21.51 Comparison of ulcerative colitis and Crohn's disease**

| | Ulcerative colitis | Crohn's disease |
|---|---|---|
| Age group | Any | Any |
| Gender | M = F | Slight female preponderance |
| Incidence | Stable | Increasing |
| Ethnic group | Any | Any; more common in Ashkenazi Jews |
| Genetic factors | *HLA-DR*103*; colonic epithelial barrier function (*HNF4α*, *LAMB1*, *CDH1*) | Defective innate immunity and autophagy (*NOD2*, *ATG16L1*, *IRGM*) |
| Risk factors | More common in non-/ex-smokers<br>Appendicectomy protects | More common in smokers |
| Anatomical distribution | Colon only; begins at anorectal margin with variable proximal extension | Any part of gastrointestinal tract; perianal disease common; patchy distribution, skip lesions |
| Extra-intestinal manifestations | Common | Common |
| Presentation | Bloody diarrhoea | Variable; pain, diarrhoea, weight loss all common |
| Histology | Inflammation limited to mucosa; crypt distortion, cryptitis, crypt abscesses, loss of goblet cells | Submucosal or transmural inflammation common; deep fissuring ulcers, fistulae; patchy changes; granulomas |
| Management | 5-ASA; glucocorticoids; azathioprine; biological therapy (anti-TNF, anti-α4β7 integrin); colectomy is curative | Glucocorticoids; azathioprine; methotrexate; biological therapy (anti-TNF, anti-α4β7 integrin); nutritional therapy; smoking cessation; surgery for complications is not curative; 5-ASA is not effective |

(5-ASA = 5-aminosalicylic acid; TNF = tumour necrosis factor)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژیړي Jaundice

ژیړي اصلآ د ژیړ رنګه صباغي **Pigment** چې **Bilirubin** ورته وايي ددې له تجمع څخه پیدا کیږي. د **Bilirubin** نارمل اندازه **1mg/dl** ده کله چې دغه اندازه د **2,5-3mg/dl** ته ورسیږي یا له دې څخه لوړه شي نو ژیړي پیدا کیږي.

ژیړي لومړي د سترګي په **Sclera** او **Mucus membrane** کي تظاهر کوي او کله چې د **Bilirubin** سویه ډیره لوړه شي نو په **Skin** کي هم تظاهر کوي.



## Metabolism of Bilirubin:

**RBC** د **120** ورځو پوري عمر لري له دې څخه وروسته د **Reticuloendothelial system** د مکروفاژ په واسطه بلع کیږي او په دوه برخو **Hem** او **Globin** باندي بدلیږي، **Globin** په بدن کي په **Amino acid** بدلیږي او **Hem** په **Biliverdin** او بیا په بدن کي په **Bilirubin** باندي بدلیږي. دغه **Bilirubin** چې لومړي ځل پیدا شو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Unconjugated Bilirubin** یا **Indirect Bilirubin** او یا هم **Fat Soluble Bilirubin** دي. په شحمو کي منحل دي دماغو ته ډیر تیریږي خو اطراح کیږي نه.

دغه **Bilirubin** په دوران کي د **Albumin** سره یوځاي کیږي او ځیګر ته ځي، نو هلته **Unconjugated B** د ځیګر په حجره کي په **Conjugated Bilirubin** باندي بدلیږي.(د **UDP** انزایم په واسطه) دا په اوبو کي منحل **B** دي. دا **Conjugated B** د ځیګر څخه **Bile** او د صفراوي قناتونو له لاري **Gallbladder** ته راځي او هلته ذخیره کیږي. بیا دغه بیلیروبین کوچنیو کولمو ته راځي چي هلته ورباندي بکتریاګاني تاثیر کوي او په **Urobilinogen** باندي يي بدلوي چي بیا دوه سیره غوره کوي: یو د **Stool** له لاري اطراح کیږي او بل ویني ته ځي او د **Kidney** له لاري په تشو متیازو کي اطراح کیږي.



Ann Hepatol. 2019;18:658–72

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Types of Jaundice:

## 1.Pre Hepatic:

اکثره د **Bilirubin** اندازه په بدن کي زياته وي، عام سبب يې **Hemolysis** دي، **RBC** پکي مخکي له وخته تخريبيږي. په ځيګر کي کوم خاص مشکل نه وي موجود خو يوائي **Load** وربانديي اضافه وي په دې کي د **Bilirubin Production** زيات وي ځيګر **6** چنده ددي وړتيا لري چي **Unconjugated B** په **Conjugated B** باندي بدل کړي. که د **6** څخه زياتيږي بيا يي نه شي بدلولای. په دې ډول کي **Mild** زېړي وي او د **Unconjugated B** سويه پکي لوړه وي.

## 2.Hepatic Jaundice:

د ځيګر د **Parenchyma** ناروغي خصوصآ **Liver cirrhosis** موجود وي. نو د ځيګر حجرات خپله وظيفه نه شي ترسره کولاي، په دې وخت کي **UCB** په **CB** نه بدليږي او په وينه کي د **UCB** سويه زياتيږي. په دې کي د **UCB** سره سره د **CB** سويه هم لوړه وي. ځکه چي د ځيګر د حجراتو د **Cell membrane** د ټرانسپورټ په واسطه هلته چي کوم **CB** دي هغه ويني ته ځي او هلته يي سويه لوړيږي. په دې ډول کي **SGPT** او **SGOT** سويه لوړيږي چي دغه دواړه يي د تشخيص لپاره اړين دي.

## 3.Post Hepatic:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د **Bile flow** په مقابل کي مانعه (**Obstruction**) موجود وي، دغه **Obstruction** شاید تومور (د ځیګر او یا د پانکراس تومور) او یا کیدلي شي **Gallbladder stone** له وجي منځ ته راغلي وي. کله چي لاره بنده شوه نو **CB** به بیرتهویني ته ځي او هلته به یي سویه لوړیږي. په دې کي د **Alkaline phosphatase** سویه هم لوړه وي چي د تشخیص لپاره یي مهم دي.

په دغه ډول کي زېړي **Deep** وي، **Pale stool** او **Dark urine** پکي وي.

د وخت په تیریدو سره که چیري **Obstruction** له منځه لاړ نه شي نو **Bilirubin** به نه اطراح کیږي، صفرا او کلسترول هم نه اطراح کیږي وینی ته به ځي په ناروغ کي **Xanthelesmia pruritis** پیداکیږي. که نور وخت پري هم تیر شي نو د **ADEK** ویټامینونو جذب خرابیږي او د **ADEK deficiency** هم منځته راتلاي شي.

# Types of jaundice

| category | definition |
|---|---|
| Pre-hepatic/ hemolytic | The pathology is occurring prior to the liver. |
| Hepatic/ hepatocellular | The pathology is located within the liver. |
| Post-Hepatic/ cholestatic | The pathology is located after the conjugation of bilirubin in the liver. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Chronic Hepatitis

**Chronic Necro inflammation of Liver Parenchyma.**

د ځیګر د پرانشیم مزمن **Necro** التهاب چي د **3-6** میاشتي وخت پري تیر شوي وي.

## Causes:

1. Chronic Viral Hepatitis (HBV, HCV)
2. Autoimmune Hepatitis
3. Drug induced Hepatitis
4. Steato Hepatitis (Fatty liver)

## Chronic Viral Hepatitis

### Hepatitis B Virus (HBV)

**HBV** چي کله بدن ته داخلیږي نو **Asymptomatic phase** تیروي، وخت پرې تیریږي مزمن کیږي او اعراض بیا ورکوي.

## Clinic:

**HBV** یو **DNA** وایروس دي کله چي ناروغانو ته انتقال شي لومړي کوم خاص اعراض نه ورکوي خو شاید کم ناروغان د هډوکو، عضلاتو، ځان درد او **Anorexia** ولري. **Acute HBV** په **90-95%** پیښو کي **Full recover** یعني ښه کیږي خو **5-10%** پیښو کي **Acute** په **Chronic** بدلیږي او **Chronic Hepatitis** ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Investigations:

- د تشخيص لپاره ښه معاينه **HBs Antigen** ده که دا مثبت وو نو په **Active infection** باندي دلالت کوي.
- دوهمه معاينه **HBe Antigen** ده چي دا ترټولو خطرناک ترينه **Ag** ده. دا **Ag** په **Active Replication** باندي دلالت کوي يعني د وايروس شميره دوامداره د زياتيدو په حال کي وي.
- **HBc Ag** ددي **Ag** مقدار په وينه کي نه معلوميږي خو يوائي **Anti HBc antibody** پکي ګورو چي انټي باډي جوړه شوي ده او که نه. که مثبت وو نو دا هم په **Active Replication** باندي دلالت کوي. که **HBc Ag** مثبت وو نو د انتان زيرمه ده او نورو خلکو ته يي ډير انتقالوي.
- ترټولو ښه معاينه **PCR** ده چي په دې کي **HBv DNA** موجود وي.

په دې ناروغانو کي د **AST**، **ALT** او **Bilirubin** اندازه لوړه وي.

# Treatment:

## Goals of Treat:

ددې د تداوي لپاره دري اهداف دي:

1. **HBe Ag Negative:**

دا انټي جن به منفي کوو يعني **Active Replication** له منځه وړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. **Normalize ALT**
3. **HBv DNA Negative**

## Indication of Treat:

**Asymptomatic** ناروغان نه تداوي کیږي خو د لاندي **Criteria** په موجودیت کي دغه ناروغان تداوي کیږي:

a) **ALT (↑↑, ↑↑↑ )**

ددې سویه چي **3-2** چنده زیاته شوي وه. (**Normal ALT= 30-40**)

b) **PCR Positive**
c) **Necro inflammation in Biopsy of Liver**
d) **HBe Ag Positive**
e) **Chronic Hepatitis B virus:**

او کله چي مزمن حالت وي.

**Acute HBV** هیڅ کله هم درملني ته اړتیا نلري خو کله چي پروسه مزمنه وي او **6** میاشتي وخت پرې تیر شوي وي نو تداوي ترسره کوو.

کله چي درمل ورکوو نو **Goals** او **Indication** ټاکو او د تداوي لپاره لاندي درمل ورکوو:

A. **Entecavir 0,5mg/daily**

ددې په مقابل کي **Resistance** ډیر کم **1-2%** دي.

B. **Tenofovir 300mg/daily**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم ښه درمل دي **Resistance** يي **15%** دي (**Safe in Pregnancy**)

C. **Lamividine 100mg/daily**
D. **Interferone 190microgram/sub cutaneous/weekly**

# Chronic Hepatitis C (HCV)

دا يو **RNA** وايروس دي او کله چي بدن ته داخليږي نو نادراً **Acute hepatitis** ورکوي چي دا بيا په **Chronic Hepatitis** باندي تاسس کوي حتا په **Chronic liver disease** (**Liver cirrhosis**) باندي بدليږي.

## Diagnosis:

د تشخيص لپاره يي **Anti HCV Ab** ګورو، دغه **Ab** د **Ag** د داخليدو څخه **6** مياشتي وروسته مثبت کيږي، داچي **Ag** شته خو **Ab** پته ده نو ښه معاينه **PCR** ده ددي په واسطه **HCV RNA** معلوميږي.

**Molecualar analysis** هم ښه معاينه ده چي په دې کي **HCV** جينوټايپ معلوميږي. د **HCV** شپږ داني **Genotype** پيژندل شوي دي. اول جينوټايب يي د درملو په مقابل کي مقاوم دي او ډير اختلاطات ورکوي.

په **HCV** کي د **ALT** سويه لوړيږي خو د **200** څخه نه زياتيږي.

**Jaundice** هم پکي نادراً موجود وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Treatment:

د تداوي لپاره يي لاندي ریژیمونه پيژندل شوي دي:

A. **Pregleted interferon + Ribavirin**

د اول جینوټایپ لپاره **12-1** میاشتو پوري او د نورو جینوټایپونو لپاره **6** میاشتي ورکول کیږي، خو که چیري جینوټایپ نا معلوم وو نو بیا هم **12** میاشتو لپاره ورکول کیږي.

B. **Daclatasvir + Sofosbovir**

دا **90%** موثر دي او په ټولو جینوټایپونو تاثیر لري دا ترټولو ښه رژیم دي.

C. **Sofosbovir + Ribavirin**

دا یواځي په **2,3,4** جینوټایپونو باندي تاثیر لري.

# Autoimmune Hepatitis

یو **Rare immune mediated liver injury** ده (یوه ډیره نادره د ځیګر **Autoimmune** ناروغي ده) **T lymphocyte** پکي خپل ویجاړونکي تاثیر ښایي او **Autoimmune hepatitis** منځ ته راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Pathogenesis:

**Idiopathic** یعني نامعلوم دي خو ځیني نظریي وجود لري:

1. **Genetics:**

**HAV، EBV، HIV** که په دې وایروسونو باندي یو څوک اخته وي نو له دې وایروسونو سره معافیتي سیستم **Cross reaction** کوي او د **Liver injury** سبب ګرځي.

**80%** پیښې یې په ځوانو انجونو کي چي عمر یې د **20-30** کلنۍ پوري وي لیدل کیږي. له دې سره نوري **Autoimmune** ناروغي هم وي لکه **Vitiligo، Hashimatous thyroiditis، Rheumatoid arthritis** او **IBD** (**Chrons disease**)

که دغه **Chronic injury** تداوي نه شي نو په ناروغ کي **Liver cirrhosis** تاسس کوي او که دا هم تداوي نه شي نو **End stage liver disease** باندي بدلیږي.

# Diagnosis:

د تشخیص لپاره یې ځیني **Ab** چي په بدن کي مثبت وي او په وینه کي یې سویه لوړه وي لیدل کیږي لکه:

a) **ANA (Anti nuclear antibody)**
b) **ASMA (Anti smooth muscle antibody)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



c) **AKLMA (Anti kidney liver microsomal antibody)**

د قطعي تشخیص لپاره یي ناروغ ته **Liver biopsy** اجرا کیږي.

په دې کي د ناروغانو د **ALT** سویه د **1000** څخه لوړه وي او هم د **IG G level** لوړ وي.

## Clinic:

غیري وصفي **Clinic** لري:

1. **Anorexia**
2. **Arthritis**
3. **Jaundice**
4. **Fatigue**

دا یي غیري وصفي کلینیک دي ځکه په ډیرو ناروغیو کي هم وي خو که چیرته په یوه ځوانه ښځه کي **Chronic liver disease** نښي مثبت وي نو **Autoimmune hepatitis** ته فکر کوو.

## Signs of Chronic liver disease:

1. **Breast Atrophy**
2. **Spider nevi**
3. **Ascites**
4. **Hepatomegaly**
5. **Splenomegaly**
6. **Palmar erythema**
7. **Amenorrhea**

(c) ketabton.com: The Digital Library



8. د ویښتانو تویېدل

## Treatment:

**Remission** او **Relapse** ورکوي (**90%** ناروغان د تداوي څخه وروسته دوباره **Relapse** ورکوي)

### A. Steroids (Prednisolone)

**Lifesaving agent** دي یعني د ناروغانو ژوند ژغوري او ددي ناروغي د پرمختګ څخه مخنیوي کوي.

لومړي **40mg** ورکول کیږي کله چي اعراض ښه شي نو بیا **5-10mg/day** په جاري ډول توصیه کیږي.

که له دې سره **Response** نه وي نو د **Steroids** سره یوځاي لاندي درمل ورکوو:

### B. Azathioprine 1-1,5mg/kg/day

که ددې سره هم **Response** نه وو نو لاندي درمل ورکوو:

- C. Mycophenolate
- D. Cyclosporine
- E. Methotrexate

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Liver Cirrhosis




تعریف:

**Irreversible hepatic failure او Nodule formation ته LC** ویل کیږي.




## Causes:

1. **Chronic viral Hepatitis (common in Afg)**
2. **Alcohol (common in world)**
3. **Autoimmune hepatitis**
4. **Fatty liver (rare)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



5. **Genetics:**
   a) **Alpha 1 AT ↓↓**
   b) **Wilson disease**
   c) **Hemochromatosis**

**22.26 Causes of cirrhosis**

- Alcohol
- Chronic viral hepatitis (B or C)
- Non-alcoholic fatty liver disease
- Immune:
  - Primary sclerosing cholangitis
  - Autoimmune liver disease
- Biliary:
  - Primary biliary cholangitis
  - Secondary biliary cirrhosis
  - Cystic fibrosis
- Genetic:
  - Haemochromatosis
  - Wilson's disease
  - $\alpha_1$-antitrypsin deficiency
- Cryptogenic (unknown – 15%)
- Chronic venous outflow obstruction
- Any chronic liver disease

## Pathophysiology:

کله چي **Hepatocyte damage** (هر کله چي د ځیګر حجره د الکولو، وایروسونو او یا نورو سببونو له وجي تخریب شي) منځ ته راشي نو د ځیګر د حجري په واسطه **Stellate cell** فعالیږي کله چي فعال شو نو دري شیان ازادوي:

1) **TGF**
2) **Cytokine**
3) **Inflammation biomarkers**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي دا دري واړه د کولاجن الیاف زیات جوړوي او **Fibrosis** پیدا کوي. او **Fibrosis** په **Hepatocyte damage** او بلاخره په **LC** باندي بدلیږي




نو پتوفزیولوژي د **LC** په درې خبرو څرخي چي دغه دري واړه یو بل پسي **(step by step)** پیدا کیږي:

1. **Hepatocellular dysfunction**
2. **Portal HTN**
3. **Portosystemic Shunt**

کله چي **Portal HTN** وي او په مرۍ کي دغه فشار زیات شي نو **Esophageal varices**، که په معده کي دغه فشار زیات شي نو **Gastric varices** او که په **Spleen** کي زیات شي نو **Hypersplenism** یا **Splenomegaly** ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Portosystmeic shunt** د باب ورید د بل **Systemic** ورید سره قاچاقي لار جوړوي چي **Toxic** مواد ویني ته وړي، دغه **Shunt** ددي پرځاي چي وینه ځیګر ته یوسي نو دوران ته یي وړي چي **Heart** ته بیا **Brain** ته ځي او ناروغ ته **Encephalopathy** پیدا کیږي.




# Clinic:

په لومړي مرحله کي اعراض ډیر غیري وصفي وي خو کله چي اختلاطات ورکړي نو د هغي څخه وروسته تشخیص کیږي:

1. **Anorexia**
2. **Fatigue**
3. **Abdominal pain**
4. **Jaundice**
5. **Nausea**
6. **Vomiting**
7. **Weight loss**
8. **Anemia**

(c) ketabton.com: The Digital Library



9. Glossitis

## In Physical exam:

1) Yellow sclera
2) Palmar erythema (in hand)
3) Spider nevi (in chest)
4) Breast atrophy (in female)
5) Amenorrhea (in female)
6) Ganycomastia (in male)
7) Testicular atrophy (in male)
8) Pubic hair loss
9) Ascites with collateral vessels
10) Splenomegaly (in 30% patients)

ددغه ټول کلینیک **Base** هغه دري خبري دي کومي چي مو په **Pathophysiology** کي تري یادونه وکړه.

## Investigations:

a) HBC, HCV
b) PT ↑↑, $INR$ ↓↓
c) Albumin ↓↓
d) Bilirubin ↑↑
e) ALT ↑↑, $AST$ ↑↑
f) TLC ↓↓, $PLT$ ↓↓
g) HB ↓↓
h) Vitamin D ↓↓ (91%)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Complications:

1. **Varices:**
    a) **Gastric Varices**
    b) **Esophageal Varices**
2. **Ascites:**

ددي له وجي به لاندي حالتونه پیدا کیږي:

a) **Portal HTN**
b) **Albumin ↓↓**
c) **Aldosterone ↑↑**

ددي د تداوي لپاره باید سودیم اندازه په ورځني ژوند کي کم کړل شي، دې ناروغانو ته **Spironolactone** توصیه کیږي، که ددي سره ښه نه شو نو **Combine** ورسره **Loop diuretics** ورکوو. که د طبي درملني سره ښه نه شو نو **Thoracocenthesis** اضافي مایع د پریتوان د جوف څخه د یوي ستني په واسطه ویستل کیږي که له دي سره هم ښه نه شو نو **TIPS** (**Tansjugular intra hepatic portosystemic shunt**) عملیه اجرا کیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## 3. Spontaneous Bacterial Peritonitis (SBP):

کله چي **Ascites** موجود وي او په مايع کي **E coli** مداخله کړي وي نو **SBP** تاسس کوي او په ناروغ کي لاندي اعراض موجود وي:

a) **Abdominal Pain**
b) **Distention ↑↑**
c) **Abdominal Tenderness**

تداوي لپاره ښه درمل **Cefotaxime 2gr/8hrs** دي. د نامعلوم وخت لپاره د **Ascites** ناروغ ته د **Prevention** په منظور لاندي درمل هم ورکولاي شو:

a) **Norfloxacin**
b) **Ofloxacin**

## 4. Hepatic Encephalopathy:

د ځيګر د ناروغيو په **Base** کي عصبي تشوشات پيدا کيږي، **NH3(Amonia)** چي زهرجنه ماده ده د **Portosystemic shunt** له وجي **Bypase** کوي دماغ ته ځي، په لومړي مرحله کي يو معمول **Confusion** لري خو کله چي ناروغي ونه پيژندل شي يا تداوي نه شي نو په دوهمه مرحله کي ناروغ **Drowsy** حالت ته له دې ځخه **Stupor** او بلاخره **Coma** ته ځي.

د **Hepatic encephalopathy** لپاره تشديدونکي فکتورونه په لاندي ډول دي:

a) **Constipation**

(c) ketabton.com: The Digital Library



b) **Diuretics**
c) **GI Bleeding**
d) **Potassium ↓↓**

د تداوي لپاره يي لاندي درمل ورکوو:

**A. Lactulose 30-49cc/8hrs**

دا درمل ناروغ له **Coma** څخه وباسي او دوه کارونه ترسره کوي:

- **NH3** په **NH4** باندي بدلوي، **NH4** نه جذبیږي نو په دماغ کي يي سویه ښکته کیږي او د ناروغ شعوري حالت ښه کوي.
- د کولون په بکتریا باندي مستقیماً تاثیر لري او بکتریا نه پریږدي چي امونیا تولید کړي.

درمل تر هغه وخته پوري ورکول کیږي چي د ناروغ شعوري حالت اصلاح او غایطه مواد يي نرم شي (**Constipation** ښه شي) د **Prevention** په خاطر په دوامداره توګه لاندي درمل ورکولاي شو:

a) **Rifaxamine 550mg/12hrs**
b) **Metronidazole 250mg/8hrs**

**5. Hypersplenism:**

ناروغانو ته **Pancytopenia** پیدا کیږي یعني **RBC**، **WBC** او د **Platelets** سویه ښکته کیږي. **Clinical** دغه ناروغانو سره کوم خاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومک نه شو کولای خو د باب ورید **(Portal vein)** د فشار د کمیدو لپاره **Beta blockers** ورکولای شو.

### 6. Coagulopathy:

دغه ناروغانو ته **Vit K** او **Fresh frosin plasma** ورکوو، او **PLT (Platelets transfusion)** ورته هغه وخت کوو کله چې د **Platelets** اندازه د **50000** څخه ښکته شي.

## Treatment of Liver Cirrhosis:

**A. Create the cause** سبب یې معلوم او تداوي شي

**B. Na ↓↓** ددې استعمال کمول

**C. Water ↓↓** ددې استعمال محدودول

**D. Beta blockers: (Propranolol, Carvidolol)**

**E. Lactulose**

**F.Balance Diet** یوښه رژیم تاکل او ورکول

**G. Liver Transplantation:**

د ځیګر پیوند کول د **Liver cirrhosis** لپاره **Curative** تداوي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Acute Pancreatitis

کله چي د پانکراس فعاله انزایمونه د پانکراس نورو برخو ته لیکاژ وکړي او د غدي **Auto digestion** منځ ته راوړي.







## Causes:

**A. 90%:**

1) **Gall stone**
2) **Alcohol**
3) **Idiopathic**

**B. 10%:**

1) **TG ↑↑ (1000-2000 ↑↑)**
2) **Hypercalcemia**
3) **Drugs:**
   a) **Hydrochlorothiazide**
   b) **Sodium valoprate**
   c) **Azathioprine**
4) **Trauma**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**5) Infections:**

**a) Mumps**
**b) Chicken pox**

الکول مستقیماً په پانکراس **Toxic** اغیزي لري، الکول د **Oddi sphincter** د **Dysfunction** سبب کیږي او الکول د پانکراس په کوچنیو **Ducts** کي **Obstructions** منځ ته راوړي.

| 21.80 Causes of acute pancreatitis |
|---|
| **Common (90% of cases)** |
| • Gallstones<br>• Alcohol<br>• Idiopathic causes<br>• Post-ERCP |
| **Rare** |
| • Post-surgical (abdominal, cardiopulmonary bypass)<br>• Trauma<br>• Drugs (azathioprine/mercaptopurine, thiazide diuretics, sodium valproate)<br>• Metabolic (hypercalcaemia, hypertriglyceridaemia)<br>• Pancreas divisum (p. 842)<br>• Sphincter of Oddi dysfunction<br>• Infection (mumps, Coxsackie virus)<br>• Hereditary factors<br>• Renal failure<br>• Organ transplantation (kidney, liver)<br>• Severe hypothermia<br>• Petrochemical exposure |
